11

کابل

د ۱۳۳۶ ش کال د میزان (۱) ۱۳۷۷ ق کال د صفر (۲۹) د ۱۹۵۷ ع کال د ستمبر ۲۴

Sep. 24, 1957
2 - JAN 17
Copy ____ 1958

په دې ګڼه کښې:

هیلی
زړه زړه نه دی
راور ټی
سل دی ومره او ...
بیاهم سابی ....
میخائیل شولوخوف
لېو نتوب
ګرانو متعلمینو!؟
راغلی لیك
ځواب
ادب په تمدن او....
دپښتو لیك پوهه
دپښتو ټولنی دیوه کال....
ولولیء

ښاغلی دوست شینواری

هیلی

زړه چه دغمونو نه وزګار نه دی
دلته نو همزولو ؟ ژوند پکار نه دی

لا په زلزلو دی پښتنی هیلی — ځکه می زړګی لا په کرار نه دی
مه ستا به شاعره ! رنګینی د ګل — زړونه چه ژوندی نه شول بهار نه دی
څه کړمه رنګونه قافلی د بوی — زړه می تماشو ته چه وزګار نه دی
ولاړی که منزل ته قافلی د ژوند — دلته لا پښتون غریب بیدار نه دی
څه شو که کاږه شول د غرمو سیوری — سترګی چه لا پټی دی سهار نه دی
نشته دی بی داغه رنګینی به کښی — داخسته خاطر می څه ګلزار نه دی

دوسته ! په تلوارو بده پښتون کړه ویښ
وخت نور د کتود انتظار نه دی

(۲۷ کال) (۱۱) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا ، الفت ،

مسئول مدیر م، د، « ژواك »

پته: - کابل انادر پښتون واټ دپل خشتی دیله مقابل دتیلفون امبر (...)

ښاغلی رشاد قندهاری

زړه زړه نه دی

تاهیڅ نه وکړیء ماښام چه (دی) بیدیدیء د نوی ناوی دوصال بیتابی هڅی ئی دغوجل ور ته دتمبې ایښوول له خواو خاطره ایستلی و. سهار وختی چه داور څرګنده شوه چه برابی لیوانو څو مېزه کړم کړی دی دپسرلی دتنا په څیروغړو مبیدی. پرله وایشیدی. ځبله تاوشو اودقهر تندره ئی ستاد تنکی ژوند پرځاله پرېوتله. دخپل خیرن او ناانصافه زړه په محکمه کښی ئی داتاوان ستا د بیبا کی. نتیجه و بلله. بیرحمه منګولی ئی په خورا شدت اوتلوار ستالور ته دراوږدی شوی، دسرتر خورو ورو وېښتانوئی ونیولې اودخوازه خوب له تاوده بستر ئې دخونی دوره لور ته را کښلی نه می هیریږی. چه دژمی د څاې په هغه وچ یخ کښی چه کاڼی سره چاودل. ته ئی په شنه خړه په وهلو ټکولو شلیدلی ګرالبی، یبلی پښی، لڅه ککرۍ اوله خوبه ډکی سترګی له کوره وشړلی، له ساړو څخه دی ځامی سره کړپیدلی، ککړوزی اخیستی وی، په نازولی سرت (جثه) کښی دې وینه وچه شوی و ههیښ پاته وی چه دابلا څله را باندی ناز له شوه اودپلار تور بورمې ولی ما ته تور بور شو؟

نه می هیریږی. چه په دغه حال کښی دی شو نډې مرۍ مرۍ کیدلی خو و نه پوهیدمه چه د بیرحمۍ دچپلاخی له بیری دې زغ تر خوله نه خوت او که دی دځوانۍ درانژدی پسرلی غرور پرخوله لاس درنیولی ؤ؟

تودې اوښکی دې په رنځورو سترګو کښی دوری هیسته رغښتلی خوونه پوهیدمه چه د بیرحمه (پلندر) دقهریدلی بڼی له پرتمه دی رابهولای نه شوای که دی پښتنی ضبط دسترګو په ګاټو کښی تمولی؟

په هر صورت نه می هیریږی چه اوښلنی سترګی دی دلور اومرستی په هیله دمرګی په خوږو پرتی مورته مړې مړې را اړولی اوپر ګام ګام دی ترشا راته کتل.

خوافسوس چه نه می په مړ ژوانده زګیروی اوسوی کوربل کښی دومره اثرؤ چه ستا دتاند، نازولی سرت (جثه) اودهغه مال په تاوان دلیونی شوی دماغ دظالم او غښتلی لاس ترمنځ ګواښ وکړای شی چه ستادنیمه خوا پلار دتربور ګلوۍ او زما د اجباری مړوښۍ په حکم بی درڅخه غصب کړی دی او نه می په غړوغامو کښی دومره توان ؤ

پاته په دریمه پشتۍ کښې

گران نولواك دتر کیی د سفر په رخت دازمیر د پوهنتون خوانه دتګ پـه لا ر کښې

دلار له مجلی څخه :

راورټی

یو انګریز چه پښتو ئی ډیره پاللی ده

د یورپ داقوامو استعمار پر ایشیا سن کاله روان وو دوی ډیر تیری و کړه ظلمونه ئی و کړه شرقی قومونه ئی و ځورول زمونږ دبدن وینی ئی و ځبیښلی او ډیر اخلاقی او اجتماعی فسادونه ئی واچول دشوم او سپیره سیاست په څپیړه ئی ډیر مخونه شنه کړل - ډیر هډونه ئی خاوری کړل - ډیری ارتینی ئی کونډی کړی ډیر ماشومان ئی یتیمان کړل .....او. ... داستعمار داوران اوخونړی داستانونه خوډیر دی مګر دغو استعمار ګرانو اود سیاست ټګانو اوخونخوارانو ځینی ښه ښه شیان هم لرل - او زمونږ په ځمکو کښی ئی تر اوسه ځینی داسی اثر و نه هم پاته دی - چه یقیناً سودمن سودمن او ګټوردی - نومونږ چه اوس دبینا ستر ګو او خپلولاسو پښو خاوندان کیږو او خپل واك پخپل لاس کښی آخلو - ښائی چه ښه ښه و ګڼو او بدبد . ښه اوبد سره ګډول اود ګټور او ضرر ناك تمیز نه کول - دیوه انسان کار نه دی او کفران نعمت هم دی ته وای - چه دښو ښیګړې هیری شی .

دیورپ داستعماری لښکرو سره که کله ځینې بوهان او ددرد او احساس خاوندان هم شرق ته را تلل - چه دوی دبشری ژبو له پاره ډیر خدمتونه و کړل اودایشیا داقوامو تاریخ ئی ښه څرګند کړ - دا کار که څه هم دوی دخپلو قومو دګټی لپاره کاوه - خو زمونږ له پاره هم مفید وو .

وائی چه دپښتنو نامتو سیاسی راهنما سید جمال الدین افغانی په لندن کښی دفارسی او ترکی او عربی لوی عالم براون ولید چه دایران له پاره ئی نه یوازی علمی او ادبی - بلکه سیاسی خدمت هم کاوه - سید دبراون ډیر قدر و کړ - اوو رته وئی ویل : په ټول انګلستان کښی یوزړه هم شته - چه دایران پرحال سوزی اودا زړه د قدر وړ دی .

لکه براون چه د فارسی ادب اود ایران تاریخ او سیاست ته ښکاره او څرګند خدمتونه کړی دی - او ایرانیان هغه اوس خپل استاد او محسن ګڼی دغسی هم راورټی پښتو ژبې اود پښتنو تاریخ ته داسی خدمتونه کړی دی چه په انګلینډ کښی « دپښتو تحقیقاتو پلار » بلل شوی دی کوم وخت چه راورټی دپښتنو سره ژوند کاوه - اتیا کاله مخکښی ؤ

اواوس مونږ ته نه ښکاریږی چه ددی سړی عملی ژوند څنګه ؤ ؟ ځکه چه دی یوفوجی افسر ؤ - اودپښتنو سره په جنګو کښی هم نښتی ؤ - نو ښائی چه

د خپل هیواد دګټی له پاره به ئی پښتانه وژلی هم وی - مګر دعلم او ادب په میدان ئی پښتو ته

ډېر غوره او ګټور کارونه کړی دی

ځرك چه په پښتو ژبه کښې علمي یا ادبي مطالعه کوي هغه ضرور دراورتي کتابونه ګوري او دده نوم پیژني - زما داخیال دی چه د ده علمي او ادبي خدمتونه پښتو ژبې ته دومره ډېر دي - که استعماري یا فوجي ګناهونه ولري نو هغه هم مینځي او کټي ئي تر ضرر ډېر بېزي - د راورتي د پیژند ګنوي د پاره زه دلته دده احوال د انګریزي نیشنل بیوګرافي ۱۸۲۵ - ۱۹۰۶ د اکسفورد پوهنتون چاپ ۱۹۵۱ ص ۱٦٤ ج ۳ ضمیمه څخه ترجمه کوم ځکه چه د علمي او ادبي تحقیق کوونکو د پاره دده پیژندون ګټور دی

هنري جارج راورتي (۱۸۲۵ - ۱۹۰٦ ع) یو خاتیځ پوهاند - (مستشرق) سپاهي ؤ چه د ۱۸۲۵ کال دمي په ۳۱ م په پالمو ته کښې وزیږید - دده پلار پیټر راورتي په بحري فوج کښې جراح ؤ - مور ئي د پالمو ته د ډران له خاندانه وه راورتي د هلکینې په عمر په پالمو ته او نپزانس کښې سبق ولوست چه د ۱۵ - ۱٦ کالو شو د بحر په سفر رهي شو - او بیائي په فوجي کارونو ګوتې پورې کړي خو چه د سر چارلس لیمون په توجه په فوجي کیډتانو «ضابطانو» کښې داخل شو او هندوستان ته راغی .

په هند کښې لږ څه وروسته په ۱۸٤۳ ع کال د بمبئي په ۳ نمبر پلي فوج کښې داخل شو او په ۱۸٤۸ ع د خپله فوجه سره د ملتان کلابندۍ (محاصره) ته راغی او بیا په ګجرات کښې وو - چه په ۱۸۵۰ کال د سرحد په لومړي لام کښې د اباسین ځمکو ته راغی - او د سوات په جګړو کښې ئي برخه واخیسته - کوم خدمتونه چه راورتي د ملتان او ګجرات په لامونو کښې کړي وو - دوه مډالونه ئي انعام واخیستل او بیا یو بل مډال د سرحدي ځمکو د خدمتونو له پاره ده ته ور کړي شو له ۱۸۵۲ - ۱۸۵۹ ع پورې راورتي په پنجاب کښې اسسټنټ کمشنر وو او بیا په ۱۸٦۳ د میجر مرتبې ته ورسید - او یو کال پس له فوجه ریټایرډ شو د راورتي د انګلینډ په اوتري او ګریمپونډ روډ کارنوال کښې او سیده او ټول عمر ئي د شرقي ژبو به پلټنه او تحقیق کښې تېر کړ - که څه هم دی اصلا یو سپاهي سړی وو او اکاډیمیك نه وو - مګر د تحقیق او پلټنې په کارو کښې ئي خاص ذوق او استعداد لاره .

په کلو کلو ئي په ژبو او تاریخ او علم انساب کښې له علمي لاري پلټنې کړې وي په هند کښې ئي هندي ژبه او فارسي او ګجراتي او مرهټي داسې زده کړې وې چه د حکومت له خوائي د زرورو پو د لوړ مهارت انعام وموند. راورتي په ۱۸۵۹ کال د هندي اصطلاحاتو لوی قاموس په انګریزي و لیکل چه دده لوړ مهارت په هندي ژبه کښې ښکاره کوي - په ۱۸٤۹ کال چه په صوبه سرحد او پېښور کښې وو پښتو ژبه ئي زده کړه او د پښتنو د تاریخ په پلټنه بوخت شو - د افغانه نو په نسبت او پښت کښې ئي مطالعات وکړه - او په ۱۸۵۱ کال ئي د بمبئي د جغرافي

ټولنې له پاره دصوبه سرحد او پېښور جغرافی احوال دنقشو سره ولیکه دپښتو ژبې دتحقیق له پاره راورټی ټول لغوی او گرامری موادسره راټول کړل - او داسې تحقیقات ئې پکښې وکړل چه انگریزانو « دپښتو پلټنو » پلارو گانه ده ډېر زحمتونه وگالل او په آخر کښې په ۱۸۵۵ کال ئې دپښتو گرامر خپور کړ چه ډاکتر ډورن دپټر سبرگ مشهور خاتیځ پوهاند دغه کتاب ډېر وستایه راورټی دا گرامر په ۱۸۶۰ کال لا پسې بشپړ (مکمل) کړ او بیائې دریم وار په ۱۸۶۷ کال چاپ کړ - دده بل خو را مهم کتاب پښتو ډکشنری ده - چه په ۱۸۶۷ ع کال دوهمه پلا چاپ شوه بل غوره او ډېر گټور کتاب ئې « گلشن روه » دی چه دپښتو نظم او نثر غوره ټوټی دی - او ټول له قلمی او تاریخی کتابونو څخه راټولی شوی دی بل کتاب ئې د « پښتنو شاعرانو غوره اشعار » دی چه دانگریزی ترجمې سره په ۱۸۶٤ کال چاپ شو او بیائی هم په دغه کال « پښتو انجیل » نشر کړ په ۱۸۷۱ کال ئی د « ایسپ قصه » په پښتو چاپ کړه او په ۱۸۸۰ ئې « پښتو مینول » خپور کړ دراورټی بل غوره کتاب دده نو ټو نه دی - دافغانستان او بلوچستان براحوال چه له ۱۸۸۲ تر ۱۸۸۸ پوری ئی دوزیر هند مارکولیس آن سالسبری په غوښتنه ولیکل - او ډېر جغرافی او نسبی او دمځکی معلومات ئی دقبایلو له عاداتو او احوالاتو سره راټول کړل .

بل مهم کتاب ئې دفارسی تاریخ « طبقات ناصری » انگریزی ترجمه ده چه په ۱۸۸۱ کال ئی چاپ اوپردی کتاب ئی ډېرې حاشئی او تفصیلات ولیکل چه دمؤلف منهاج سراج کار ئې تکمیل کړ .

راورټی دبنگال دایشیائی ټولنی په مجله کښې هم ډېر تحقیقی مضامین لیکلی دی چه ځنی ئی دادی :

د افغانانو د اصل تحقیق په ۱۸۵٤ ع - د کافرستان او سپه پوش کافرانو حال ۱۸۵۸ ع - د تورو کافرو د ژبې پلټنې ۱۸٦٤ ع - دبرکاشغر او چترال حال ۱۸٦٤ ع - دطبقات ناصری دمولف حال ۱۸۸۲ ع - مهران او دسند ملگری دریابونه ۱۸۹۲ ع تبت ۳٦۵ کاله مخکښی ۱۸۹۵ ع دمسکو اقدام پر افغان دامضمون یونائیډ سرویس گزت په ۱۸۸۵ نشر کړ -

راورټی په ۲ - اکتوبر ۱۹٦ ع په گرامپونډ دوډکار نوال کښې مړ شو - ده په ۱۸٦۵ ع کمانډر جان پولی لور چه ټانی ویگرس نومیده واده کړې وه مگر اولاد ئې نه درلود خو هر ځای ئې دوستان لرل - او په شرقی پوهنو کښې ډېر مشهور وو -

راورټی چه مړ کېده - اوه مکمل خطی تالیفونه ئې پاته شوه چه نشر شوی نه دی -

(۱) د هرات او خراسان تاریخ : له پخوانۍ زمانې څخه چه د قدیمو تاریخونو څخه ئې

دانتقا دی مطالعاتو سره لیکلی
او په ۵۰ کاله ئې مکمل کړ - له
شپږو قدیمو قلمی کتابو څخه ئې
اقتباس کړی دی چه نسخه ئې
اوس په انډیا آفس کښې ده -
(۲) دافغان تاریخ او د دوی
هیواد - چه ټول متعلقه معلومات ئې
پکښې راوړی دی -
۳ - داسمعیلیه فرقی عروج
په افریقا کښی .
٤ - دمنګ او هزاره تاریخ
چه په افغانستان او نورو برخو
کښې دمنځنۍ ایشیا اوسی .
۵ - له فارسی څخه دتاریخ
الفی ترجمه په انګریزی .
٦ - پښتو بشپړ انجیل .
۷ - له انګریزی څخه په
پښتو ډکشنری (نامکمل)
ددې مضمون مأخذ لنډن
تائمز ۲٦ اکتوبر ۱۹۰٦ ع
د برکلینډ انډین بیوګرافی
دایشاتك سوسایټی بنګال مجله
۱۹۰۷ ص ۲۳۱ هغه خطونه چه
دراورتی کونډې ورکړی دی.

لیکونکی: «جالاوان»

سل دی ومره او یو دی مه مره

۱ ریدی ګل په هدیره کښی
دسر بلندخان د قبر سرته ولاړ
دواړه لاسونه یی اوچت نیولی ؤ
او ما چه دهغه دغټو سرو سترګو نه
دبهیدونکو اوښکوروانو چینو ته
وکتل - نو هك پك ورته ودریدم
دتصور تندی سیلۍ مې دعقل
او پکر په سمندر کښې یو طوفان
راوست - دریدی ګل له اوښکو نه
ډکی سترګی راته دومره غټی
ښکاره شوی - لکه د سینما په
پرده چه ددوو غټو ډیوو دپاسه
سوچه ملغلری چا نیولی وی -
او ویلی کیدونکی ملغلری
ترې نه لکه دڅڅوبی یو یو ټکی
ښکته راڅاڅی -
انوروویل زه دپکر په دریاب
کښې لامبوزن روان وم - چه په
غوږونو مې دشښ شښ آواز ولګید
سترګی چه می واړولی - نو ریدی
ګل په مات زړه لکه د ګوزنیانو
زما په لور راروان وو - لکه چه
دپښونه ئې دم وتلی وی - زه هم
یو څو ګامه وروړاندې شوم - او
چه یو بل ته ډیر ورلنډ شوو - نو
ریدی ګل د رنځورانو په شان
په ډیر کمزوری آواز وویل
«انوره! خیر دوی - ته څنګه
په دې تور ماښام هدیری ته
راغلی یې» خدای دی نکړی
«څرك مړه خو نه دی - چه ورله
دقبر دځای کتو دپاره راغلی ئې.
څوك خو مړه نه دی سبا له می
دساد بن د پاره یو څو کلبی
پکار دی پکر مې وکړو - چه څه
به په پوخ سړك دومره اوږد
تاویږم - خو په دې هدیره به
مهمندو کلی ته لنډوروو زم
انوروویل ما دریدی ګل نه
تپوس وکړو چه اشنا! ما خو
اوریدلی وو چه تا خو په ځانګو
کښې هم چیری ژړلی نه وو ولی
اوس خو تا دسر بلند خان قبر ته
داسی په لپولپو وژړل لکه چه
دزمانو غبار دې په زړه راجمع شوی
وو، نن در ته موقعه په ګوتو درغله
اوزره دې په ژړا ژړا تش کړو.
ریدی ګل و وئیل هه انوره!

هوښارانو ویلی دی چه «سل دې ومره
یو دې مه مره» په خوږو یارانو پسی
خلك دغه رنګ دزړه له درده ژاړی
زما دزړه خونه په سربلند آباده وه او د
هغه سترګی چه پټی شوی نو بیا ځما
داسترګی داوښکو نه چری هم وچې
شوی نه دی- نن دسربلند دمرګ
څلورم تلین دی څلور کاله وړاندې
هم په دې ماښام ما پخپل لاس سربلند
لحد ته کوز کړی وو.

ولی په ژړا خو سربلند بیا
ژوندی کیدی نه شی.
ریدی ګل!! ما ته ډیره ښه
معلومه ده چه ستا او د سربلند
دوړو کوالی راهسی ډیره خوږه
اشنائی وه او د کلی ټول لوئی
واړه به ستاسو خوږی مینی او
اشنائی ته پسخېدل ولی نن سبا
خو چه سړی دډیرو نتردو او سکه
یارانو له سترګو نه هم پناه شی نو په
دویمه ورځ یی بیا دزړه نه وښکی
وی- او په دروغه یی هم چیرې
نوم نه اخلی ته خو په پنجرو
کښی دسا تلو سړی ئی چه پخپل
اشنا پسی لکه دلیو نو غوندی
اوترئی.

انورو ویل مونږ دمیږی په
قدم مهمندو کلی ته روان وو
او دریدی ګل نه مې په خبرو
خبرو کښی تپوس وکړ چه ته په
سربلند ولی دومره مین وی- او
ستاسو یارانه داسی په کومه خبره
خوږه شوی وه. ریدی ګل په
تلو تلو کښی وروغوندی مسکی
شو چه دخپل اشنا خبری راباندی
داسی خوږی لګی لکه چه
یو چقیدلی ځای له بنده، تکور
ورکوی، ریدی ګل وویل
«ځما او د سربلند دپلار دیو بل
سره ستړی مشې وو په غم ښادیء
کښی به هغوی ځمونږ او مونږ
دهغوی کره ناست وو یوه ورځی
مونږ په ګودر کښی لامبل
ایندوانی موځان سره وړی وی
چه داهم په اوبو کښی یخی کړو
په لامبلو او ټوقو مسخرو کښی
زه داوی ډب دجمات چت ته
اوختم- او دبره نه مې چه دډب په
چره کښی را ودانګل نو خبر نه
یم چه زه ستړی شوی ووم او که
دډب دغولی زور وو چه زه داوبو
تل ته اورسېدم- نو غولی لکه
دلاتو داوبو په ویخ کښی
وچورلولم- او بیای په مخه
واخستم- سربلند لا دې په اوبو
کښی په بیړی پوری انډول
ولاړ وو- او چه زه څه ساعت ښکته
په اوبو کښی پټ او ټیکاؤ پاتی
شوم نو اشنا را پسی په چره کښی
راودنګل- او په غوپو سر شو- زه
چه بیا په ځان څوپو هیدم-
نو دلوی ډب دجمات نه قریباً
دوه میله خکته دبیړو دپل خوا ته
په شکو کښی او پوټه دمنګی دپاسه
پروت ووم چه زغړ دلې او به په
بیر ته وجار باسم او چه کیډه مې
داوبو نه تشه شوه لږ ساه صورت
شوم نو سربلند خپل حجری ته
بوتلم چه راځه هلته به لږ ه دمه
وکړی حجری ته چه او رسیدو
نو سربلند راله په درنګ ساعت کښی
ډاکټر راووست ډاکټرو کتلم او وی
ویل چه سم یی ء البته یو څو ورځی
آرام وکړه، لامبه را لامبه مه»
داو ځما او د سربلند دیارانی
ابتدا ځما سترګی به هر وخت
سربلند ته دحیا نه ښکته وی او
په زړه کښی به مې د سربلند دنیکی
دی یاداشت غورزونګو نه وهل
چه سربلند زه په دوئیم ځل دژوند
خاوند کړی یم- که نه وی نو زه
خو اوبو وړی سړی وم».

ریدی ګل و وئیل دژوند
شپی ورځی لکه دسیند داوبو په

چغه تیریدی او کارونه دخدای وو
چه څه موده پس زر خان دوی
دتره دمرگ ناحقه دعوی په
ماو کړه ژوند دی په دې کښی
بنده کله کله دآملو کو په تول
کښی هم راشی-خدای راوسلتی
ورځ وه ماسره د کنجکی درك
هم نه وو چه دځان دپاره مې دو کیل
بندوبست کړی وای ولې دسربلند
په گور دی خدای رحمت کړی
ځما دوینانه به غیرئې دو کیلانو
او صفائی د گواهانو تول انتظام
کړی وو زه پوره دوه نیم کاله
په حوالاتونو کچر واو
عدالتونو کښی بیگناه وکړیدم
ولې دقتل جرم راباند ثابت نه شو
او په یو دیرشمه میاشت دسربلند
دمنډ و ترړو په برکت بریالی
راخلاص شوم».

دقیده درا آزاد یدونه پس
په څلورمه او که په پنځمه شپه مې په
حجره کښی ډډه وهلی وه سربلندمې
تپوس وکو چه اشنا! بیگارانه
ښځی وویل چه تا ځما په مقدمه
دخپلې اندې په شمار شمیرلی
لس زره کالداری لگولی دی
ما ته معلومه ده چه ته نه خو دمربو
او چا گیرونو خاوندی او نه
در ته پلار نیکه په زرگونو
اولکونو روپې په بانکونو کښی
جمع په میراث کښې وروسته پری
ایښی دی بیا دې دالس زره روپې
له کومه راپیدا کړی دی».

ریدی گل و ویل: سربلند
ځما په دې خبره برق پاخنداشو، چه
اشنا غمونه یی مه ژاړه چه سروی
نو ټوپی ډیری دی زه ستا دسرغم
اوړی ووم روپی پیسی او دولت
خو دلاس خیری دی دولت
بیا پیدا کیږی ولی بو مخلص
رشتونې-او زړه ته را تیر یار اشنا
بیاموندی نه شی».

خو آخر دا دومره حساب
دې د کومه راپیدا کړی وو په
قرض پور په غلا غلطیء او که
دچا په سر دې اخستلی و».

سربلند وویل «پکار دی چه
بنده دی یار دوست ته هروخت
بول ډال اولکه دشیشی غوندې
سپاوی په یار اشنا څوك زباتونی
نه کوی تا نه ځما هیڅ پرده
نشته — هرڅه چه ما ستا دپاره
کړی دی- په تامی څه احسان
نشته ما دخپل زړه دخوشحالی
دپاره کړی دی - زه پوشه
او ځما کار چه ما ستا دمقدمی دپاره
دومره رقم د کومه راپیدا کړی وو

ریدی گل و وئیل ما بیا
سربلند ډیر مجبور کړو - چه
ما ته تول حال ووایه او سربلند
په ډیره ناخوالی و ویل ته چه
و نیو شوی - نو په هغه ورځی
مونږ کره دوه نیم سوه کالداری
نقدی پرتی وی هغه می ماښام
د گل افروزی په لاس وریندار ی
له ولیږلې چه د خرڅ خوراك
گذاره پری کوه او مادې
دوریندار ی څلو یښت تولې
دسرو گانې دحاجی غلام رسول
پرا چه سره په دری زه کالدارو
کښی گانه کښېښو دل ولی
وریندار ه می دی ښه پوهه کړه
چه چا ته به عبز نه کوی مقدمه
چه او زده شوه نو اشنا! دادری زره
خو پخوا الوزیدلی وی — دوه
زره ورسره نوری چه گل
افروزی د پلار د کوره
راوړی وی. هغه هم دو کیلانو
فیسونو او د گواهانو خرڅو
تمامی کړی و کیلانو را ته
ووئیل - چه که اوس دی پیسو ته
وکتل - نو گټلی مقدمه به
وبائیلی - اشنا! باور خو را
باند د خلکو ډیر وو - ولی
زړه مې په چا و نکړی شو -

وای سوال د پلاره هم څه نه دی
سوچ مې وکړو چه دیار اشنا
د پاره خو خلك سرو نه هم په داؤ
زدی که ماستا دپاره د زهرو
گوټ و څکونو کوم آسمان
به راټیټ شی د بحرام کلی د یرش
جریبه ځمکه مې د حاجی صاحب
سره په لس زره کالدارو گڼه
کړه او شکر دی چه ته می
را خلاص کړی د چرخی
ډنډ للمی او بی بی کوئی
پټو داځل دومره زور زور
فصل کړی دی چه شل خو می
تری نه بوساړی وتړلی د پوره
شپږ زر و رو پو می تش غنم
خرڅ کړی دی او د شو تل
اتیا بوری ډکی د رحیم الله
په منډئی کښی لا امانی پرتی
دې- مطلب می دادی چه گه
د منی فصل هم سون وخوړ-
نو کالی او ځمکه دواړه به
له خیره را خلاص کړو ».
انور و ویل « ریدی گل
په خبر و خبرو کښی لکه
دماشومانو پړینگ په ژړاشو-
چه انورخانه!! د منی فصل چه
موسنبال کړو- او د سر بلند
کالی او ځمکه مود گانی له
تیز ندې نه را خلاصه کړ-
نو سربلند یو څو ورځ پس ناڅاپه
ناروغه شو- او په پنځمه ورځ
ځمونږ نه تر قیامته جلا شو-
اوس چه زه په سربلند پسی
نه ژاړم- نو نور څوك به ورپسی
ژاړی .»
ریدی گل وو پل دا نوره!!
د ومره لوئی ټو پو نه هیڅوك
دچا دپاره نه وهی لکه سر بلند
چه بی تپوسه- بی غرضه او بی
زباتنی ځما د پاره وهلی وو-
خلك وائی چه دا دنیا اوس ډیره
خود غرضه شویده- او د خپل
مطلب نه غیر دخولی تشی خبری
هم څوك دچا سره نکوی- ولی
دلاس پنځه واړه گوتی یوشان
نه دی- دا دنیا د بیشماره
ننگیالو- مخلصانو- پاك نیتو
اورشتنو خلکو په برکت آباده
ده- اگر چه د سربلند غوندې
ځامن به میندو ډیر کم راوړی
وی ولی ځما خودا ایمان دی
چه داسی نور ډیر نران اوسو چه
پښتانه اوس هم ژوندی دی
چه دیار آشنا د پاره د زهرو
گوټ داسی وهی لکه چه
آب حیات ئی بیا موندلی وی'

ښاغلی محمدحسن (سایی)

بیاهم سایی وپیژنئ

د کابل مجلی په (٤٣٨) گڼه کښی دښاغلی چمبیلی بومضمون د (صافیان څوك دی) ترعنوان لاندې چاپ شو .

د امضمون ماولوست نه ددی دپاره چه زهم یو (سایی) یم اوزما په کام باندی چاڅه خبری کړیدی ، بلکه دتاریخ دیولیسانسه په حیث ددغه مضمون لوستنه ماته حتمی ښکاره شوه خو کله چه مادغه مضمون سرتریایه په غور و لوست دا رانه وبریښیده چه لیکونکی نه یواځی داچه دپښتنی تاریخ له حقائقونه منحرف شوی بلکه دیواوی لرغونی پښتون کام په تاریخی سرنوشت کښی ئی پوره لاس وهلی دی .

پښتنی محققینو نو سره (له ښه مرغه) داشعور شته چه دپښتنی کامونه اصل او ریښه د آریانا په ویدی اواوستائی قبائلو کښی ویلټی اویه تاریخی اسنادو اود فیلا لوژی (فقه اللغت) داصولو یه اساس پښتون اوپښتانه یو لرغونی تبر ثابت او دنیا ته ئی ښکاره کا ندی خو (له بده مرغه) ښاغلی چمبیلی پخپله مقاله کښی سرچپه کار کړی دی چه زما په عقیده دغسی کار هغه هم دیوپښتون لیکوال له خوا په پوپښتون تبر باندی له اصافه لیری غو ندی ښکاری . خو په هر صورت زه دده دغه زحمت او تجسس ستایم او په دغسی تجسساتو کښی ئی نورهم بریالی غواړم .

خو دومره وایم یو محقق کله چه یه یو موضوع کښی تحقیق کوی په تیره بیا چه هغه موضوع یو تاریخی مبداء او تاریخی حیثیت هم ولری نو لومړی دخپلو تحقیقاتو دپاره کتابونه مراجعه کوی کله چه یه کتابو نو کښی یدغه لړ کښی چاپخوا تحقیق نه ؤ کړی او څه ئی نه وو لیکلی اویادهغو تحقیقات اولیکنی دده تنده نشوه ماتولای نو بیانو روژوندیو اسنادو ته مراجعه کوی اوله هغو څخه پخپلو تحقیقاتو پیل کوی ، مگر ښاغلی چمبیلی د سایبو دنسب د سلسلی دتحقیق په متعلق چه خاصتاً یو تاریخی موضوع گڼله کیږی دمحققینو له اصول څخه ئی کار ندی اخستی او پخوا لدې چه کتابونه و گوری خپله مقاله ئی لیکلی اوفوراً ئی دچاپ دپاره کابل مجلې ته استولې ده .

زما یقین دادی که چیرته ښاغلی چمبیلی اقلاً دافغانستان تاریخ لومړی ټوك چه ښاغلیو کهزاد اوعثمان صدقي لیکلی (چه دهغه مطالعه په تیره بیا هر پښتون ته ضرور ده) دیو ځل دپاره له نظره تیر کړی وای اوبائی د کابل مجلی په (٣٦١) گڼه کښی دښاغلی رښتین تحیق ته لږغوندې التفات کړی وای نود (سایبو) دنسب سلسله او د دوی منشأ

اومبداء به‌ښه‌ورته څرګنده شوې‌وای اوبیا دغسې یوه مقاله به‌ئې نه‌وای لیکلی .

خوده اورېدلی دی چه دنسب سلسله‌دخلکو له‌خولی نه هم‌بیدا کیدای‌شی. صحیح ده زه‌هم دامنم خونه دهغه کام په‌حقله چه (۲۲۸۳ دوه‌زره اودوه سوه او دری‌اتیا) کا له پخوائی دمقدونی اسکندرسره‌دلغمان او کنړو په‌غرو اوراغو کښی دغری‌وهلی او کلاسیك مورخینوئی په‌صراحت ذکر کړی دی . که‌ووایم چه‌دداسی بولوی اولرغونی تاریخی تبر د نسب دسلسلی میندل دتاریخ اومورخینو له‌حوصلی نه هم‌بهر دی مبالغه به‌می نه‌وی کړی .

داچه د (ساپیو) نه‌پخپله هم‌ددوی د نسب سلسله ورکه‌ده‌ستر علت‌ئی هم همدادی چه ساپی یونوی جوړشوی اوتازه راوتلی کام نه‌دی .

ښاغلی‌چمبیلی (ساپیان) کله‌دتوبې له‌توري مرغی او کله‌ئې له‌غوړی مرغی څخه راغلی بولی اودغوړی مرغی‌موقعیت هم‌د سپین بولدك یوه‌علاقه ګڼی . حال داچه کهزاد (۱) غوړه مرغه غورته‌وائی اودپټی خزانی‌محشی‌وائی چه‌غوړه مرغه‌دیوی لوئی اوارتی مځکی نوم دی چه دقندهار په جنوب شرقی کښې له ارغستان څخه شروع شوې او آخر حدئې دسلیمان ترغره او دبلوچستان ترمنځه رسېده او د ارغستان حوزه او د کلات جنوب او د کوزك دغرو لمنی دکاکړستان تریوی برخې پورې په‌هغې کښې شامل‌وو (۲)

داچه‌غوړه مرغه‌په‌رښتیا کوم ځای دی‌مونږ دلته‌په‌هغې کار نلرو. هرځای چه‌وی‌وی‌دې. خوڅوك چه‌وائی (ساپیان) له‌غوړې مرغې نه‌راغلی دی‌دایوه‌محض عنعنوی نظریه‌ده او کوم واقعیت اوتاریخی ارزښت نلری‌دهغو تاریخی اسنادو له‌مخې‌اود فیلا لوژی له اصول سره‌سم (چه‌لاندی به‌هریو‌پخپل ځای کښې وښودل‌شی) ساپیان دلومړی ځل دپاره‌له (بخدی) بلخ نه‌راغلی اوبه کاپیسا (تګاب) لغمان او کونړ کښې میشت شوی‌دی .

داچه‌وائی اوس‌هم‌په‌غوړه‌مرغه کښې دیونیم‌تردوه زره کوره پوری‌ساپی دپوونده‌وبه‌څېر اوسېږی (۳) غالباً یاراساً له‌بخدی‌نه اویاد کونړ، کاپیسا اولغمان نه هلته تللی دی .

مخکښی ترهرڅه دابایدوویل‌شی چه‌په پښتون تبر کښې د(صافیانو) په‌نامه کوم کام نشته کوم چه خلك‌ئې صافی بولی هغه (ساپی) دی‌اوس‌هم پښتانه وګړی‌ورته‌صافی نه‌بلکه

---

(۱) دافغانستان تاریخ لومړی توك .

(۲) پټه خزانه د۹-۱۰ مخ حاشیه

(۳) کابل مجله ۴۳۸ ګڼه د(۶) مخ حاشیه

ساپی وائي. او یوا ځي دځینو مرزایانو دقلم نه اصلاح کېدونکی ژبه ده چه ساپی (صافی) لیکی. لکه څرنګه چه دلو ګر په ځای (لهو ګرد) دپوپلزی په ځای (فوفلزائی) دا لیشنګ په ځای (علیشنګ) دالینګار په ځای (علینګار) داپریدی په ځای (افریدی) دسبا په ځای (صبا) او دکڅ په ځای (کج) او داسی نور په غلطه املا لیکی.

داچه ددغه کام (ساپی) او یا حتی ددی کام په سترو څانګو لکه (ودیر. ګربز. مسود) (۱) په نومو کښې یو هم خاص سامی او عربی توری نشته علت دادی چه دغه کام داسلام تر نفوذ دمخه له خپلو څانګو سره موجود ؤ ځکه کوم کامونه چه داسلام تر نفوذ وروسته له لو یو لرغونو پښتنی کامونو څخه جلا شویدی؛ ددوی په نومو کښې زیاتره سامی او عربی خاص توری او نومونه ګډ شویدی لکه محمدزی، احمدزی ابراهیم خېل، جبار خېل، حسن خېل او .... داسې نور پښتانه کوچنی کامونه،

داچه ښاغلی چمبېلی (ساپی) دبیان زوی او داڅك او بازی او لوط وراره ګڼی او بیا دوی دنورالدین زامن دبارك دزیرك داختر دعیسی دعبدل د دین د شرخین (خرښبون) سړ بن او دعبدالرشید لمسیان، کړوسیان، کودیان او ځوځات ګڼی کوم واقعیت او تاریخی ارزښت نه لری

---

(۱) ګربز ساپی زیاتره په کونړ، لغمان او کاپیسا کښی اوسېږی.

مسود ساپی له هغه کام سرچه په پکتیا (جنوبی ولایت) کښې دمسود په نامه یادیږی څرنګه چه د نامه دلغت له مخی هېڅ توپیر نلری نو غالباً دپکتیا مسود دساپیو له مسود سره یو کام دی ودیر ساپی د پکتیا وزیر کام سره یو کام ښکاری منتها توپیر یوا ځی په (د-ز) کښی دی څرنګه چه (د) په (ز) او (ز) په (د) اوړی لکه (زما) چه ځینې ئې (دما) تلفظ کوی او (ګذر) چه پښتانه ئی (ګدر) بولی او (ګرد) چه په پښتو کښی (ګرز) دی.

نو داویلای شو چه یا به (ودیر) (وزیر) شوی وی او یا به (وزیر په ودیر) اوښتی وی وائی چه هغه کوچنی ځانګی چه دساپیو په ودیر او مسود و کښې شته عیناً په همغه نامه دپکتیا په وزیر او مسود و کښې هم موجود دی.

خو په هرحال دغه دواړه کامه (دپکتیا وزیر او مسود) دساپیو له (ودیر او مسود) سره یو کام ښکاری او بایدهم یو کام وی ځکه دساپیو دغه دوه ځانګی (ودیر او مسود) چه په کونړ لغمان او کاپیسا کښې دومره نشته (یعنی د ګربز په مقابل کښې اکثریت نلری لکه څنګه چه ګربز په پکتیا کښی د مسود او ودیر په مقابل کښی اکثریت نشی ګټلای) نو چه په پکتیا کښی نه وی؛ چیرته به وی؟!.

او لدغو پورته ذکرشویو نومونو څخه چه څو تنه ئې خاصتاً عربی اوسامی نومونه دی لکه لوط، نورالدین، عیسی، عبدل او عبدالرشید، داڅر گند ېږی چه سابی او اڅك کامونه دي داسلام تر نفوذنه ډېرو روسته منځ ته راغلي وی او لکه چه ښاغلی چمبېلی وائی «داڅك» نیکه دژوند سلسله په څلور سوه او شپاړس (٤١٦) هجری کښی یعنی (٩٢٠) کاله پخوا ختمه شوېده او همداسې راونیسه دده دور ونو بیان، لوط او بازی زمانه، حال دا چه «اڅك» یوزوړ آریائی نوم او آریائی تبر دی چه داسلام له راتنگ نه پخوا منځ ته راغلی دی وائي چه دوی (اڅکزی) دسهاك یا ساکا (چه دغور یو مشهور پاچاؤ) له پښته دی امیر کروړ جهان پهلوان (١٣٩ هـ) دهغه له اولادي څخه ؤ. استرابون یونانی مورخ «ساك» یا ساکا قوم ذکر کړی او وائی چه دوی دآریه ویو کوچنی قوم ؤ چه داول میلا دی قرن په لومړیو کښی دآریانا غربی برخو ته راغلی وو او دغه علاقه ئې په ساکستان مشهوره کړي وه لکه چه ښکاره ده،

(ساکستان- سیستان) دفراه، چخانسور، پشت رود پخوانی نوم دی بدي علاقو کښی اوس هم دپښتنو ځینې قبیلې شته چه (سهاکزی- اڅکزی- اسکزی) ئې بولی او غالباً دغه قدیمي سهاك ته منسوبېږی(١) راغلو دساپیو په برخه کښی چه یونانی مورخینو او جغرافیه لیکونکو دکونړ او لغمان او سېدونکی ئې اسپاسی (سابی) او اسواکا گڼلی دی دافغانستان تاریخ په لومړی ټوك کښی ښاغلی عثمان صدقی داسکندر او اسپاسیو تر منځه لانجه او جگړه داسې بیانوی:

٣٢٧ کاله پخوا ترمیلاده هغه وخت چه اسکندر مقدونی په نیکائیا (٢) کښی واورېدل چه دکونړ، اسمار، باجوړ، سوات او د (افغانستان) دسرحدی نورو منطقو غرنی قبائل په غرنیو کلاگانو کښی ژوند کوی او هېچا ته داطاعت سر نه ټیټوی ددغه خبر داورېدو سره سم اسکندر مقدونی ددغو پورته ذکرشویو سیمو او خلکو دلاندې کولو دپاره خپل لښکر په دوه لویو برخو وویشه او پخپله دیوې برخې په مشرۍ ئې عزم وکړ چه داسپاسی گورائی او اساکنی قبایل چه دهندو کښ په جنوبی لمنو کښی ئې سخت موقعیتونه لرل مطیع کړی.

اسکندر داسپاسیو او اسواکانو او نور منطقو دنیولو دپاره چه عبارت دلغمان او اوسنی کونړ له خلکو څخه دی د کهویس Khoes (کونړ سیند) غاړو ته راغی او پاس ولاړ او په

(١) کابل مجله ٣٦١ گڼه

(٢) پروفیسر ولسن او مکرندل ئې دبگرام په سیمو کښی گڼی او ونسنت سمت ئې موقعیت دجلال آباد په غربی خوا کښی دکابل او هند په لیاره کښی ټاکی او ځینی نور ئې له کابل سره یو گڼی (دافغانستان تاریخ لومړی ټوك ٤٠٨ مخ)

سختۍ د کونړ له سیندنه پور ېووت که څه هم دهغو عملیاتو شرح چه اسکندر د دغه سیند په غاړو کښې وکړلې اطلاعات په لاس کښې نشته خو دومره ښکاره ده چه د دغه ځای وطن پرستو خلکو تر ډېرو پورې اسکندر په دغه ځای کښې مصروف وساته څرنګه چه اسکندر په دغو پورته منطقو کښې داخل شو همه جګړه چه د دغې سیمې دلومړی دېوال په بېخ کښې ئې وکړه وئې لیدل چه له څه مشکلاتو سره مخامخ دی خلکو په ډېره زړور تیا له خپل ښار نه دفاع کوله او دغه دفاع تر دې اندازې پورې سخته وه چه اسکندر ډېر زیانونه ولیدل .

او په تېره بیا چه پخپله هم په اوږه زخمی او له آسپه نسکور شو. بطلیموس دلاګوس زوی او لؤناتوس د ده جنرالان هم ټپی کړی شول(۱) اسکندر د دغو سیمو د خلکو (پښتنو) له داسې مقابلې او مدافعې نه سخت عصبانی شو او امر ئې وکړ چه هغه اسیران چه په دغو جګړو کښې د ده دلښکر په لاس کښېو تلی دی ټول له تېغه تېر کړی.

څرنګه چه اسکندر ولیدل چه ښار په آسانۍ نه پرانستل کیږی نو دهغه ښار شاؤ خوا وګرزېد او اطراف ئې ورته په غور وکتل او د استحکام ځایونه ئې وموندل او بیا ئې په جنګ پیل وکړ خلك په مېړانه وجنګېدل . او اسکندر وروسته له یوې سختې خونړۍ جګړې نه پر هغو بریالی شو . دهغه زخم له کبله چه اسکندر د دغه ښار د زړور و خلکو دلاسه اخیستی ؤ هر څوك ئې چه پلاس ورتلل وژل به ئې او له هیڅ راز بی رحمۍ نه ئې دریغ ونکړ او هغه ښار ئې ونړاوه وروسته له هغه اسکندر د اندراك Andraguc ښار ته ولاړ او نوموړی ښار ئې بی له جنګه ونیو او کراتیروس خپل معتمد قوماندان ئې له کافی جګړنو سره په هغه ځای کښې پرېښود تر څو چه دی د کونړ دوادی نورې قبیلی لاندې کړی .

او پخپله اسکندر داسپی سی دامیر دنیولو په قصد د سواست Soasbe د سیند خوا ته رهی شو او په دوهمه ورځ ئې ځان د ښار د دېوال بېخ ته ورساوه دغه ښار غالبا داسپی سیانو پایتخت ؤ (آریان) وائی کله چه د دغه ځای خلکو د اسکندر له راتګ نه واورېدل خپل ښار ته ئې اور ورته کړ او غرونو ته ولاړل نو ښکاره شوه چه دغه ښار په یوه نسبتا هواره سطح کښې د غره په لمنه کښې پروت ؤ . امېل ترنکلر جرمنی دغه هواره مځکه دلغمان مځکه ګڼی (۲)

وروسته له هغه مقدونیان دغرو دلیارې غالبا داسمار او هند وراج دلیارې دباجوړ ، او جندول او هغی قربی ته چه یونانی مورخین ئې آری ګائون Arigaaon بولی ښکته شوی وی

---

(۱) داسکندر کبیر حمله پر هند باندې دمکرندل تألیف ۶۱ مخ.

(۲) دافغانستان کتاب دوهمه برخه دامېل ترنکلر تألیف .

یوتربله دغه نژدې علاقې چه عبارت دی له پشات، جندول او نواګۍ څخه غالب ګمان دادی چه داسکندر دوهمه جګړه له اسپی سیانو سره ددغو علاقو نه په یوه کښې پېښه شوېده. یونانی مورخین وائی چه اسکندر په دغه جګړه کښې څلویښت زره اسیران او دوه سوه او دیرش زره غوائی په غنیمت وګټل. څرنګه چه دغه غوائی ښه اولوی ؤ (لکه څرنګه چه اوس هم دکونړ غوائی او غواګانی په خپل ښه والی کښې ډېر شهرت لری.) نو اسکندر امر وکړ چه څوتنه له هغو څخه وساتی تر څو چه وروسته مقدونیی ته دهغه ځای دغوایانو دنسل داصلاح دپاره واستول شی (۱). کله چه اسکندر ددغو سیمو په په یو بل ځای بریالی شو او ددغه ځای محصورین ټول تسلیم شول څرنګه چه ډېر قوی او زړور خلك وو نو اسکندر هغه ټول په خپل لښکر کښې ځای کړل مګر دوی حاضر نشول چه دېر دیو دپاره خپلی وینی تویی کړی غوښتل ئی چه موقع په لاس راوړی او د فرار لیاره ونیسی خوددوی دغه سازش اسکندر ته ښکاره شو او اسکندر دغه ټول زلمیان تار په تار کړل (۲) له دغه پورته بیانانو څخه څرګندېږی چه دکونړ او لغمان سیمه داسپاسیو اصلی ټاټوبی دی او اوس چه په دغو سیمو کښې ګورو وګړی ئی زیاتره ساپی دی.

ښاغلی رشتین په یولړ تاریخی اسنادو او دفیلالوژۍ داصولو سره سم دغه اوسنی ساپی هماغه پخوانی اسپاسی ګڼی او وائی:

دا یوه پخوانۍ آریائی قبیله ده چه دیونانی کلاسیك مورخینو له خوا ذکر شوېده ه اسکندر دکونړ او لغمان په مځکو کښې ددې قوم سره مخامخ شوی او ډېر جنګونه ئی ورسره کړیدی. ددی خلکو څه برخه دباجوړ او جندول په خواؤ کښې هم داسکندر په جګړو کښې دآسپی سی په نامه یاده شوېده دانوم دموجوده ساپیو سره تطبیقېدای شی، چه اوس هم پدغه سیمو کښې اوسی او دپښتنو یو مشهور قوم دی ولی چه دآساپی او یا اسپاسی کلمه په لږ تغییر دالف او دوهم «س» په حذف او د (پ ا) په قلب له اسپاسی څخه ساپی جوړېدای او او را وتلی شی. لکه له بخدی څخه چه اول بخلي او بیا بلخ جوړ شوی دی، داحتمال

(۱) د ۱۳۱٤ کال دکابل کالنۍ ۱۵٤ مخ.

(۲) دپروفیسر محمد علی میوندی درسی نوټونه دادبیاتو دپوهنځی دتاریخ په څانګه کښې.

هم شته چه « اسپا سی اسپه سی » دبلخ اسپه کور نۍ (۱) ته منسوب او د هغو یوه څانګه وی.
ځکه چه سی په پښتو کښی نسبت دپاره راځی لکه : باندیسی، بنو سی، او نور . لنډه
داچه دد غه لغوی اوجغرافیائی اوتاریخی دلیل او ارتباط له مخې و بلای شو
چه د پښتنو دا موجوده کام « سابی » هما غه اسپا سی قوم دی چه دیونانی اسکندر
په جګړو کښی ذکر شوی دی (۲) .

او س به راشو دې ته چه دغه او سنی سابی یا پخوانی اسپاسی لغمان او کونړ
ته له کوم ځایه راغلی دی : دد وه زره ق، م، په شاوخوا کښی باختری آریائیانو
یاد خلکود زیا توالی له کبله او یاد ځای دتنګوالی په اثر په لېږد شروع و کړه له ویدی
سرودونه دا سی اخیستنه کېږی چه و یدی قبائل د هند و کښ له درونه په کا پیسا
یعنی کو هدامان په حوزه کښی ښکته شوی او لدې ځای نه ئې تقریباً د سیندو نو طبیعی
مجرا ګانی په مخه نیولی شرقی او جنوبی اوجنوب غربی سیمو خوانه تیت شول چه له
هغو څخه یوې ډلې د کو بها (کابل سیند) او دهغه مرستیال ئې په مخه نیولی او د نجراؤ
تګا و او سرو بی او لغمان دلیارې د کونړ دسیند حوزې ته رسېدلی او له هغه ځای
نه د سواستو یعنی دسوات دسیند حوزې ته تیت شول ددغو آریائیانو لېږد ېدنه د هندو کښ په
دواړو خواو کښی په یووخت د ۱۹۰۰ ق،م، او (۱٤۰۰ ق،م،) ترمنځ واقع شوېده دد وی
دغه لېږد یکنواخته او چالا که نه ؤ ځکه څپاند وسیند و نواو لو یو غ و نو او شنو
ورشو ګانو دوی د یو څه وخت دپاره تا لول تر هغو چه سرودونه به ئی هم پد غه
ترڅ کښی ویل او په کرار کرار خورېدل (۳) او س نو دلته هېڅ د شك او تردید ځای
نه پاته کېږی چه همد غه او سنی سابی هغه پخوانی اسپا سی دی او اسپا سی هما غه

---

(۱) آسپه دبلخ هغه شاهی دریمه آریائی کورنۍ ده چه په آریانا کښی دپارداتا (بلخی پېشدادی)
او دکیانی یا کاوی له کورنۍ نه وروسته منځ ته راغله دآریانا دحکومت تاریخی دوره له همد وی
نه شروع کېږی دد ې کورنۍ موسس اروت اسپه چه په اوسنیو منابعو کښی ورته لهراسپه (د چالا کو اسپونو
څښتن) ویل کېږی وروسته له کاوه او (کی خسرو) نه په بخدې کښی دآریانا په تخت
کښینو ست زردشت (سپتمان) د ده دزوی و یست اسپه یا کشتاسب په عصر کښی منځ ته راغی
(۱۰۰۰ ق، م) دغې کورنۍ دخپل نامه وروسته داسپ کلمه اختیار کړې داخو ځکه چه اسپ د آریا یا نو
په ژوند کښی ډېر قدر درلود او تر اوسه دغه آریائی رسم په پښتنو کښی شته مثلاً ډېر خلك خپل نومونه
سکاڼ کو رنګ ،مشکی، بور خان ږدی چه داټول دآسپانو اقسام دی (۱۰۱) مخ دپښتو ادبیاتو تاریخ

(۲) د ۱۳۳۳ کال دکابل مجلې کلکسیون ۳٦۱ ګڼه
(۳) دافغانستان تاریخ لومړی ټوك دکهزاد تألیف ٤۰ مخ

آریائی ټبر دی کوم چه دوه زره کاله پخوا ترمیلاده ئې له بخدې نه په مهاجرت پیل کړی او ورو ورو پدغو سیمو کښی مېښت شوید ی چه اوس هم ساپی په کاپیسا، کوه ساپی لغمان، کونړ، جندول، پشات، سوات او باجوړ کښی په همدغه نامه اوسېږی.

ښاغلی چمبیلی خپل مضمون پدې جمله پای ته رسوی اولکه یوه قطعی فیصله داسې وائي:

دټولو مقدماتو او تمهیداتو په لحاظ سره دماحول او محیط دمعلوماتو سره سم دی نتیجی ته رسیدای شو چه صافیان «سابیان» د (درانی) په ټبر کښی دننه دننه داخل او خور اغښتلی قوم دی.

حال دادی چه (درانی) اساساً کوم قوم ندی بلکه دسدوزیو د کورنۍ یو اعزازی لقب دی چه په کال ۱۷٤۷م، کښی یعنی ۲۱۰ کاله په خوا کله چه اعلیحضرت احمد شاه بابا پر تخت کښیناست دغه نوم داسی منځ ته راغی: وائی چه احمدشاه بابا خوب ولید چه یو روحانی سړی دده حضور ته ورغی او هغه ئی ددر دوران په نامه مخاطب کړ او بیا اعلیحضرت خپل فامیلی نوم په دغه نامه وګرزاره.

محمد حیات یو بل مورخ لیکی چه دغه لقب (درانی) هماغه صابر نومی درویش اعلیحضرت ته وباښه او بیا اعلیحضرت دغه کلمه په خپل مهر کښی هم وکښله (۱) ښائی چه دښاغلی چمبیلی مطلب به له درانیو څخه (ابدالیان) وی او ساپی به په ابدالیانو کښی دننه دننه یوه څانګه ګڼی، خو څرنګه چه پورته د تاریخی اسنادو له مخی او د فیلالوژۍ داصولو په اساس اسپاسی موساپی وګڼل او ددوی اصلی ټاټوبی مو وروسته له بخدې (بلخ) نه کاپیسا، کونړ، لغمان ثابت کړ او دساپیو موجودیت مو د اسلام تر نفوذ نه ډیر پخوا وښود، نو په هیڅ صورت نشی کیدای چه دوی (ساپی) دې دابدالیانو دننه یو څانګه وی. ځکه ابدالیان د تاریخ سلطانی په اساس د (ترین) له پښته دی او وائی چه له (ترین) نه دری زامن د (نور) (سپین) او (اودل یا عبدل) په نامه پاتی شوی دی او بیا (اودل) دڅلور لمسیانو لکه (نور، سلیمان، اسحق، عیسی) نیکه ګڼی، (په همدی ډول تاریخ سلطانی تر احمدشاه بابا پوری دابدالیانو د نسب سلسله لیکی) اوس چه د (ترین) په زامنو کښی داودل (عبدل) نوم او د (اودل) په لمسیانو کښی دنور، اسحق، سلیمان او عیسی نومونه (ددغو نومو په نامه کوچنی پښتانه کامونه شته) وګورو زیاتره عربی او سامی نومونه دی چه په دی اساس ویلای شو چه ابدالیان په قندهار

(۱) دپروفیسر میوندی داد بیاتو دپوهنځی دتاریخ دڅانګی نوټونه.

پاڼه په ۱۶ مخ کښی

ډنړۍ مشاهیر! دښاغلی ح. حبیب ترجمه

میخائیل شولوخوف

میخائیل شولوخوف دروسي له نامتو ادیبانو، او مشهورو مولفینو څخه دی، که څه هم اوس پنځوس کلن دی خو بیا هم په بڼه او قیافه کښې ځوان ښکاري و نه ئی نه جګه او نه ټیټه ده کالی اغوستل ئی هم له بڼې سره ډیر ښه تناسب لري. هغه کلی چه دی پکښې اوسی ډیر ساده او په عین حال کښې د طبیعي ښکلا یو ښه ښکار ندوی دی دا کلی (دون) نومیږی شولوخوف له خپلو کلیوالو سره ډیره ښه رویه لري ښه مینه ور سره ښکاره کوی او د دوی لپاره تالیفونه کوی په رښتیا سره هم دا سړی د خلکو لیکونکی دی ځکه دا مولف د دوی سره ژوند کوی، د دوی په مینځ کښې پائی او د دوی له پاره لیکی. شولوخوف هیڅکله هغه ځای نه هیروی چه لمړی ځل یی ستر ګی پر رونړی کړی. د هغه محیط په هوا کښې ئی لمړنۍ ساه کښلی او هلته یی د کوچینوالی خاړ پوڅې کړی دی.

د شولوخوف په قلمی چارو کښې هغه ناول چه (او په کراره دون تعقیبوی) نومیږی له مهمو آثارو څخه بلل کیږی. دا ناول چه په څلورو ټوکو کښې چاپ شوی دی نه یوا ځی په یوه یا دوو بلکه په ډیرو ژبو کښې ترجمه شوی او د ډیرو هیوادو د خلکو تر مطالعی و تلی دی. د دی قصی لوستونکی په پای کښې دا تصور کولای شی چه مولف تر کومه حده پوری د ښه فکر او لوړ خیال خاوندوو. دی د دی قصی هیرو (پهلوان) په یو داسی عبارانو کښې ښکاره کوی چه د نړۍ

د ۱۵ مخ پاته

کښې دا سلام له نفوذنه وروسته منځ ته راغلی دی. نو ځکه سایی په هیڅ ډول هغه هم په ابدالیانو کښې د ننه یوه څانګه نشی کیدای او ځانته یو مستقل او لرغونی پښتون کام دی.

په هر حال، که د پښتنو د ټولو کامونو او څانګو د نسب سلسله (که چیرته ممکن وی) وسپړل شی په آخر کښې ټول پښتانه یو د بل ورونه او طبعاً د یوه پلار زامن دی.

خو دومره ده چه په پښتو کښې د مشر او کشر لحاظ ساتل او بیا د هر یو خپل خپل ځای پیژندل د پښتنو او د پښتنی کلتور یوه دستاینی وړ خاصه ده.

یدغه مقاله کښې زما هدف دا نه دی چه د خپل کام (سایی) د دفاع په منظور د ښاغلی چمبیلی په مضمون یو انتقاد ولیکم، بلکه زما هدف محض داؤ چه (هغه هم د ده د غو ښتنی په اساس) د یو پښتون ستر کام په تاریخی مقام لږه رڼا وا چوم. والسلام

ښاغلی میخائیل شولوخوف در وسیی نامتو لیکوال

دبرلز ناول لیکونکی به ددی قدرت خاوندوی . څرنګه چه دمیخائیل شولوخوف دا اثر یو دیر مهم اودبحث ورتالیف دی نوځکه لازم ګڼوچه پردغه موضوع باندی دپیژند ګلوی لپاره په یوڅو کرښو کښی څه ناڅه معلومات وړاندی کړو ده د(اویه کراره دون تعقیبوی) نومی کتاب په لیکنه په ۱۹۲۶ ع کال لاس پوری کړی وو او داسی ئی فصله کړی وه چه په ۱۹۳۱ ع کال کښی یعنی پنځه کاله وروسته ئی پای ته ورسوی خو دی په دغه عزم کښی بریالی نه شو اودا کتاب ئی پس له څورلسو کالو پای ته ورساوه. ده په دغه اثر کښی دافکر درلودچه دهغه وخت دخلکو تاریخی پیښی به یوه انتقادی ډول و ښئی ' شولوخوف نه غواړی چه د ځان به باره کښی څه ولیکی خو هغه لنډه لیکنه چه دیاد داشت به توګه ئی لیکلی ده' دده دژوند واقعات او پیښی داسی ښئی .

په ۱۹۰۵ ع کال په داسی وخت کښی چه دزمانی او ښتنو دده دمحیط رنګ ته هم بدلون ورکاوه وزیږیده د انقلاب په وخت کښی په (دون) نومی ځای کښی کوچنی وه او هلته ئی ژوند کاوه .

همدارنګه چه دژوند تیریدل دسړی په مفکوره کښی هغه خاطری بریږدی کومی چه پرده باندی تیری شوی وی' نو که داخاطری خوږی وی یا ترخی بیاهم د زمانی له تیریدو سره سم داتیرشوی واقعات ورته دلیکلو او یادولو وړ ښکاری نوځکه شولوخوف هم د خپل ژوند ګذارشات داسی لیکی:

په ۱۹۲۰ ع کال کښی می نانوایی کوله او تقریبا نږدیرو مودو پوری په همدغه کار لګیاوم.

زمادي سخت ژوند تر ۱۹۲۲ ع کاله پوری دوام وکړ څرنګه چه د ځوانانو لپاره نني پیښی دراتلونکی زمانی تجربه ده نوځکه شولوخوف هم په دغه سن (۱۸) کلنی کښی خپل لمړی کتاب (ددن قیصی) په نامه ولیکه او په ۱۹۲۵ ع کال کښی خپور شو ورپسی ئی بل کتاب د (شنی زینی) نرعنوان لاندی په مسکو کښی ولیکه چه د ده د شهرت سبب شو. دا ښکاره خبره ده چه دده دی کتاب دروسیی دانقلاب دوخت دنامتو لیکوالو او مولفینو سره دملګرتیا په توګه یوه رقابتی جنبه او حیثیت درلود چه په نتیجه کښی میدان دشولوخوف شو. هغه نور کتابونه چه دنورو نامتو لیکوالو له خوا لیکل شوی او دشولوخوف له کتاب سره ئی د رقابت سرښوراوه لکه (وزیران) د (فادیف له خوا) او د (وسپنو توفان) دسرافیمو وبچ له خوا.

دلته ښائی داخبره هم وکړو چه په هماغه وخت کښی چه د (اویر کراره دون تعقیبوی) د کتاب آخرنی ټوک له چاپه خلاص شو تولستوی دروسیی بل نامتو لیکونکی د (آزموینی) د کتاب

په لیکلو بوخت ؤ او داد ۱۹٤۱ ع کال دوبی وه همدارنګه دروسیی یو بل لیکونکی ك - فید ین چه د یو بل ناول مؤلف دی او دا ناول ئی دانقلاب په وخت کښی د (غیرعادی دوبی) په نامه لیکل شوی دی او تقریبا په خپله لیکنه کښی شولوخوف ته نژدی شوی دی خو بیاهم داسی نشو ویلای چه دوی دواړو یو ډول تالیفونه کړی دی ځکه دهر یوه تالیف ځانته جلا خصوصیت لری دشولوخوف ناول دیوې مخصوصی ټولنی پرژوند باندی رڼا اچوی چه دا ټولنه په یوه بحرانی وخت کښی ژوندی وه البته دا به یوه مشکله خبره وی چه مونږ وکولای شو چه دشولوخوف دناول پوره مطلب په هغه رنګ اوخوند چه دلیکونکی په قلم لیکل شوی دی په دی محدود پاڼو اولږ وخت کښی خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړو خو بیاهم په عمومی ډول سره دداسی فرضیی چه زمونږ ګران لوستونکی دناول سره هیڅ کوم پیژند ګلوی نه لری یو څو کرښی لیکو.

ددی ناول اساسی خیالونه ډیر ځیر اوشریفانه دی. دناول هیرو یوښه سړی دی خو نه پوهیږی چه حقیقت چیری دی دتماس له لاری څخه هم خپلو ګړو سره توافق نظر نه پیدا کوی، او په خپله غوښتنه نه بریالی کیږی. دا ناول داسی ښئی چه خوشحالی بیله خپلی مېنی او هیواد څخه په بل هیڅ ځای کښی نه موندلی کیږی او نه په پردی ملك کښی دیوه ښه راتلونکی ژوند انتظار کیدای شی.

دلته بیا یو وار لازم ګڼو چه ووایو (په دی کوچنی مقاله کښی دومره وخت نشی پیدا کیدلای چه مونږ په صحیح او مکمل ډول سره ددغه ناول ښه او بی سابقی فکرونه او هغه خیالونه چه د لیکونکی له خوا پکښی ځای شوی دی یاد کړو)

کوم وخت چه دشولوخوف دا مشهور او تاریخی ناول پای ته رسیږی یو وار بیا د الیکونکی ننني هغو عصری واقعاتو ته چه له پخوانه ئی بل رنګ غوره کړی ؤ، سړی متوجه کوی یعنی دا چه په دی وخت کښی دروسیی حکومت په اصلاحاتو لاس پوری کړ بیا شولوخوف دیوه بل کتاب چه (دویرجین مځکه نسکوره شوه) نومیږی لمړی ټوك ولیکه دا اثر، نه دا چه یوا ځی تاریخی جنبه لری او ډیر ښه په زړه پوری واقعات او پیښی پکښی لیکلی شوی دی بلکه د کلیوالو دخلکو دتربیی او تعلیم په لړ کښی هم ډیره زیاته برخه لری، همدارنګه دا ناول هم نه یوا ځی په دننه روسیه کښی لوستونکی لری بلکه په دباندنیو مملکتونو او هیوادونو کښی هم ویونکی لری ددغه ناول دوهم ټوك چه په نژدی وختونو کښی خپور شوی دی هم دلیکونکی دتالیفی مهارت یوښه شان او هم دروسیی دا د بیاتو په آسمان کښی یو ځلاند ستوری دی چه پلوشی ئی ساری نه لری ددی ناول هیرو «داویدوف» نومیږی چه په اصل کښی یو بزګردی، دی د ده دتبارز قصه بیانوی.

پاته په ۲۰ مخ کښی

لېونتوب

تاته تحقیر ماته تقدیر لېونتوب
زما تدبیر زما کشمیر لېونتوب

که تاته عقل ر وژی کړی طرحه
ماتم(۱) په برخه شو وزیر لېونتوب

مستونه بیا شوی پیمانی لبریزی
کنډول دمی کښی شو تخمیر لېونتوب

دلته خودی په بی خودی کښی اوسی
ځکه مقبول شو عالمگیر لېونتوب

ساقی را لنډ کړه صراحی او کنډول
دمېنی بڼ چه کړ تسخیر لېونتوب

دهوس ډېوه شوه په حیرت کښی تته
چه لېونی ته شو تنویر لېونتوب

عقل سر سام شو د سودا له لاسه
چه ډېر اوچت کړلو تعمیر لېونتوب

دافلاطون فکر پریشان شوور ته
چه شروع و کړه په تقریر لېونتوب

«سېلابه» دادا ستغنا مقام دی
چه در په غاړه کړ ځنځیر لېونتوب

گرانو متعلمینو!؟

وختونه درومی، ملگر تیائی ښه ده
خوخپل قامی امتیاز مه ورکوی ء

وخت چه څه یوړل هغه ستاسو نه دی
رازو نه اخلی ء، خوراز مه ورکوی ء

* * *

څه په تدریج او اعتدال سره ځی ء
دا کائنات هم ئې نظام و گوری ء

انقلابی ذهنیت ډېر ښه نه دی
زور دسېلاب هم ئې انجام او گوری ء

* * *

ای د پښتون ملت وړو بڅر یو
سره راغونډ شی ء چه لمر شی پیدا

ستاسو هرفرد دې یو آدم شی ثابت
چه کوم ساعت در ته خطر شی پیدا

* * *

د مستقبل د جامعی ځلمیو
منم روزنه د ملت ده پکار

له یوه لاسه تک و تلی نشی
ښه ملگر تیا د حکومت ده پکار

حمزه شنواری

(۱) ماتم دماته هم نه مخفف دی

مردان- مغربی پاکستان

راغلی لیك

ترالقا ووروسته:

السلام علیکم:- ماسره درحمت داوی دیوان دی چه هغه په کشمیر کښې ملاولی بخاری په (سنه ه غره) ۹ ستمبر ۱۹۵۷ کښې په پښتو ژبه لیکلی دی، رحمت داوی داحمد شاه بابا ابدالی (رح) او دهغه دځوی تیمورشاه دوخت شاعردی- دا دیوان قلمی دی- او دهغوی دزمانی حالات پکښې په نظم لیکلی دی- ددیوان نه نقل شوی نمونه برای ملاحظه تاسو ته درلیږم- علاوه ددی نه هغه عمر په کشمیر کښې تیر کړی دی- اصلی باشنده د قندهار ؤ د کشمیر متعلق داشعارو نمونه هم برای ملاحظه درلیږم چه تاسو ئی اندازه ولګوی ء پښتانه شعراء مرتبهٔ ښاغلی عبدالحی حبیبی کښې ددی نامور شاعر ذکر بالکل نشته- او نه ئې ددیوان ذکر شته په دی باره کښې ما په «لار» رساله پشاور کښې هم یو مضمون ور کړی و- میاشت یی راته یاده نده- ددی خط په میلاویدو باندی تاسو داجواب ولیکی ء چه دادیوان مذکوره په کابل کښې یا په قندهار کښې درحمت داوی وارثانو چاپ کړی دی او که نه-؟ امیددی چه تاسو به مکمل جواب راولیږی ء- که چیری په افغانستان کښې هم نه وی چاپ شوی - نو بیا به روزنامه شهباز وروزنامه انجام پشاور کښې یدی غرض اشتهارور کړم چه دادیوان

د ۱۸ مخ پاته

څرنګه چه مو په لمړنیو کرښو کښې اشاره وکړه شولو خوف دخلکو لیکوال دی او داحقیقت په تیره بیا ددوهمی عمومی جګړی په وخت کښې ډیر ښه څرګند شوی دی یعنی داچه ده په هغو خطرناکو مواقعو کښې چه خلك به په جګړه بوخت ؤ مقالی لیکلی او دخپل سوزناك قلم په ذریعه ئی خلکو ته ډاډ اوزړورتیا ورکوله په دغه شان ئی دآثارو په واسطه یو (دوی دخپلی مینی لپاره وجنګیدل) ناول ولیکه دشولو خوف قلمی قدرت د (دویرجین ځمکه نسکوره شوه) دناول دوهم ټوك دخپریدو او دبل ناول (دمیړه تقدیر) په کتاب کښې لاښه معلومیدلای شی. داپیاوړی لاتراوسه دروسیی دخلکو لپاره ډیر ښه ښه کتابونه لیکی او دوی ته ئی وړاندی کوی.

مذکوره چاچاپ کړی وی- نوهغه دی خپل نوم پته یوه میاشت کښې دننه ماته را و لیږی او که نه یوه میاشت تیریدو نه پس به بیازه ددی کتاب دچهاپ کولو کوشش په ذریعه دپښتو اکاډیمی پشاور یونیورستی کوم-یا په خپله-لحکه چه دداسی نامتوشاعر دیوان نه چهاپ کول هغه سره ظلم عظیم نه علاوه پښتو مادری ژبی سره هم ناقابل تلافی نقصان او دښمنی ده ماسره دخواجه محمد بنګش ددیوان نقل هم شته دی-دویم عرض دادی- چه دحیدر آباد دکن کتب خانه آصفیه افضل ګنج کښی دوه ډیرلوی دپښتو کتابونو هغه فهرستونه چاپ شوی پرانه دی- کوم نایاب پښتو کتابونه چه دبرتش میوزیم لندن او دبرلین کتب خانه جرمنی کښې پرانه دی- هیله لرم چه تاسو دخپلو سفیرانو مقیم لندن او برلین په ذریعه ددغه نایابو پښتو کتابونو فهرستونو مطابق دهغوی نومونه دمصنفینو نومونه او دناشرانو پتی معلومی کړی، کوم چه ملک کښی په لاس راځی نوراجمع دی کړی شی کوم چه نه میلاویږی دهغو عکسونه دی ددغو کتابخانو نه واخیستی شی او دچاپ کولو دپاره بندوبست و کړشی زه امید کوم چه په پښتانه شعراؤ کښی د کموشاعرانو او دهغوی ددیوانونو ذکر شوی دی.

دراورتی په ذریعه-هغه ټول پښتو کتابونه به دغه مذکوره دواړو کتب خانو کښی میلاوشی زه امیدلرم چه تاسو به دزړه داخلاص دخپلی مادری ژبی خدمت په ښه شان سره و کړی، او ستاسو داخدمت دمادری ژبی به یو یادګار پاتی شی' قامونه او ملکونه په کومه تندی ءهمت او عزم سره چه دمادری ژبی خدمتونه کوی-مونږ پښتانه د هغی عشرعشیرهم نه کوو-د کومو خلقو چه علوم په خپله مادری ژبه کښی نه وی -هغه چیری هم ترقی نشی کولی لحما په خیال دمادری ژبی خدمت دفرضو برابر که نوی نو کم به هم نه وی -تاسو دخپلی پښتو مجله کابل سالانه چنده ولیکیء . فقط والسلام مع الاکرام

دپښتو ژبې یوخیرخواه «حبیب الرحمن »

ځواب

ښاغلي مولانا حبيب الرحمن!

تاسی چه د حپلی مورنی ژبی پښتو له ترقۍ سره مینه لرئ او د آثارو د تدارك او احیا له پاره یی زیار باسئ پښتو ټولنه ستاسی دامینه او زیار د قدر په ستر که گوری او کورو دانی درته وایی.

د پښتو د نومیالی شاعر (رحمت داوی) دیوان چه تاسی یی پوښتنه کړې ده تر اوسه په افغانستان کښی نه دی چاپ شوی او په بل ځای کښی یی هم د چاپ خبر نه دی را رسیدلی، د نوموړی د ژوندانه په باب کښی د (لوی احمد شاه بابا) د کتاب په مقدمه او د (پښتانه شعراء) په دوهم ټوك کښی داسی اجمال شته:

«رحمت» په قوم داوی د احمد شاه بابا په عصر کښی د قندهار او سیدونکی و دی د شاه زمان تر پاچهۍ پوری لاژوندی وو هغه وخت چه سردار عبدالله خان د کشمیر نائب الحکومه و، رحمت په کشمیر کښی وو. ده د دغه سردار او شاه زمان په نوم پښتو لیلی او مجنون لیکلی دی په مقدمه کښی وائی:

غمو ملك را باندی تنگ کړ — زړه می ځکه دا اهنگ کړ
چه پښتو لیلی مجنون کړم — ښائی غم له زړه بیرون کړم
په پارسی هر چا ویلی — پښتو نه ده چالیدلی
ځکه زه په پښتو ژبه — دا قصه کړم عجائبه
سلطنت د شاه زمان دی — دی خاقان ابن الخاقان دی
سرداری د عبدالله ده — خلقه واړه اگاه ده
د کشمیر ملك ئې روښان کړ — ورك ئی ظلم د جهان کړ
زه بندی په کوهستان وم — د کشمیر په ډیر ارمان وم
نه کاغذ نه می قلم وو — روزگار ځما هسې برهم وو
چه خبر شوم له سرداره — له دې هسی نیکو کاره
په شتاب ورته روان شوم — پر دغه تیر عمر پښیمان شوم
ښائیسته کښلی پښتون دی — زیات په ورکړه تر جیحون دی
عجب دی که شی پیدا — بل دا هسې پښتون بیا

دا کتاب رحمت په (۱۲۱۰ ه) منظوم کړی دی کلام ئې ډیر پوخ او خوږ دی فصاحت لری مضامین ئې سلیس او ژبه ئې ساده ده یوه نسخه ئې مصوره شته چه په کشمیر کښې ملا ولی مصور په ۱۲ د جمادی الثانی (۱۲۱۶ ه) شیر محمد خان بردرانی لیکلې او مصوره کړی ده. (د «لوی احمد شاه بابا» مقدمه)

رحمت په قوم داوی او د پښتو ژبې د شاعرانو د لومړۍ ډلې څخه دی. دی داعلیحضرت شاه زمان معاصر وو او اصلاً د قندهار دی. رحمت ډیر سفرونه کړی دی او په ژوندون کښې ئې ډیری نرخی او خوږی لیدلی دی، دی له قندهاره ډیر عمر تللی او په کوهستان کښې ئې استوګنه کوله داسې ښکاریږی چه پدی وختو کښې دی ډیر بی وزلی او بیچاره وو وروسته له دغه ځایه کشمیر ته تللی او هلته د پښتون نائب الحکومه سردار عبدالله خان نوکر شوی دی، د رحمت د وفات تاریخ او ځای ندی معلوم فقط د ده د تولد تخمین داسې کولای شو چه داعلیحضرت احمد شاه بابا په عصر کښې زوکړی او پس له (۱۱۶۰ ه) څخه ئې ژوندون کاوه او په کشمیر کښې تر (۱۲۱۰ ه) پوری لاژوندی وو. رحمت په پښتنو شاعرانو کښې شهرت لری او نور ادباء ئې پیژنی مثلاً عبدالله پوبلزی دی داسې ستائی:

بل رحمت داوی کتاب لری دلکشه گمان نکړم چه بې څوک لری دفتر

(د «پښتانه شعراء» دوهم ټوک)

د پښتو کتابو د فهرست په باب کښې چه تاسی دلندن او برلین موزیمو ته اشاره کړې ده دلندن د موزیم د پښتو کتابو بشپړ فهرست د کابل په مجله کښې له ۲۹۱ ګڼې څخه تر ۴۱۵ ګڼې پوری خپور شوی دی او د نړۍ د نورو موزیمو د فهرستو له پاره زیاربا سو چه لاس ته یې راوړو.

پښتو ټولنه د پښتو آثارو په تدارک او چاپ کښې زیاربا سی او تراوسه یې د چاپ کړو کتابو شمېر (۱۲۶) ته رسېدلی، دی په دی لاره کښې یې زیاته هیله شته چه ستاسی غوندی ویښو پښتنو په مرسته د پښتو د خورا نایابو او نفیسو آثارو د تدارک او طبعی توفیق ومومی په درناوی.

(اداره)

دالازهر څخه : دښاغلی سیفی ترجمه :

ادب په تمدن او بداوت کښی

ادب دپوهانو په نظر کښی دیوقام دمدنی اوبدوی ژوند یوریښتینی مثال اونمو نه ده اوداهغه جامع تعبیردی چه ددی تعبیر په وسیله داحقیقت ثابتیږی چه ادب دټولنی دافکار و اواجتماعی وضعیت دڅرګندولو یواځینی وسیله ده .

نوپه دی اساس سارایی (بدوی) ادب دیوی ټولنی دهغه طبیعی ژوند تصویر دی چه انسان هیڅ لاس نه دی پکښی وهلی اولکه چه څنګه پیداشوی وی په هغه شان په غرور غو، اوورشو ګانو اومیرو کښی ژوند کوی اسمان ددوی چت، ځمکه ئی بستره، ستوری او سپوږمۍ ئی ځلاندی ډیوی اوروښانه مشالونه وی .

دوی ددی طبیعی ښکلا په مینه اونندارہ ترهغی مست اوخوشحاله وی ترڅو چه ددوی په منځو کښی دتربګنۍ میرڅۍ، دښمنۍ اوبدۍ دخونړی اورلوخړی نه دی پورته شوی اوددوی له ستر ګوڅخه دغه ښکلی منظره ددغه منحوس اورلوخړونه وی پټه کړی .

سارایی (بدوی) انسان چه په بیغمه زړه ددغه طبیعی جمال په نندارہ بوخت شی اوو ګوری چه دده دغره په لمنو اویا سمسوره ورشوتوری وریځی راخپری شویدی اوپدغو وریځو کښی دبریښنا پړ کهار اودتالندی ګړزهار او دسختو بادو شنهار ناآشنا کیفیت پیدا کړی دی دی پخپله نړۍ کښی تل داوینی چه نن باران وشو اودغه باران په اثرغرونورغو کښی نوی روح پیداشو نن داجړوبی اوناوونه ډک وبهیدل اووچ کلك ډاګونه، غرونه اورغونه تاند اوسمسور شول اونن دسخت باران په اثر سخت سیلابونه راغلل اوداځایونه ئی وران ویجاړ، خراب اوبرباد کړل، نن په دی نړۍ کښی شوراوغوغا اونن پدی بیدیا کښی چپه چوپیا اوسړه سناده، یوسارایی انسان په دغو متضا دو حالاتو کښی شپی ورځی تیروی اودغه پېښی اوحالات دده په اخلاقی اواجتماعی ژوند کښی پوره اوښکاره تاثیر لری ؛ نولکه څنګه چه طبیعت دتاثیرلاندی راځی اوددغه کار په اثردانسان طبیعت خپه ، غمجن ژړه غونی اومړاوی کېږی همدغه شان خوشحاله اوتازه کېږی همدغه شان دغه راز کارو نه په ټولنو اوملتونوهم خپل خپل تاثیرونه کوی اوپه ځینو وختو کښی دقامونو دقهر سبب کېږی اودغه کار دډېرو وینو توئیدلو سبب ګرځی .

ډېرسارائی کامونه نه نظام لری اونه قانون اونه کوم مخصوص مسلك لری اونه عقیده داراز ټولنی بی دخپلو موروثی دودونو څخه بل شی نه پیژنی؛ دوی د خپل ژوندا نه

په معاملاتو کښې په ډېره مینه له خپلو دودو څخه کار اخلي او په پوره آزادۍ سره خپل بې هدفه ژوند تیروي او هر څومره چه ددې ټولنې دژوندانه لمن ارتېږي دغه شیان هم پکښې خپرېږي او دغه کار دبداوت او سارائي توب ډېر مقدس شیان ګڼل کیږي .

بداوت او سارائي توب ځانته مخصوص جمال لري لیکن کوم جمال هغه جمال چه دانسان لاس ورباندي لوبې نه دي کړي داسمان جمال دهغه تك شین والي او دستورو جمال دهغو ځلاندتوب او دلمر جمال دهغه ښکلي وړانګي او دباد ښکلا دهغه شغهار او پوست آواز او دمرغانو ښکلا دهغو خوازه آوازونه او دونو ښکلا دهغو سمسورتیا او دګلانو ښکلا دهغو تازه والي او دډاګ او راغه ښکلا دهغه سکون او دغرونو ښکلا دهغه جلال او عظمت او دسپوږمۍ جمال دهغې صفا والي او دشپې ښکلا دهغې هیبتناکه تیاره ده .

جمال په حقیقت کښې یو عمیق او په ظاهر کښې یو بسیط شي دي چه بې دپوره پلټنې څخه نشي معلومیدلای او سارائي انسان دغه حقیقت ځکه نشي معلومولی چه دي تل دخپل ژوندانه دضروریاتو په پلټنه او شخړو او جنګونو بوخت او اخته وي .

دي دکائناتو په مظاهرو کښې ځکه فکر او تعمق نشي کولی چه دده فکر او حواس په مادي ماحول کښې بند او محدود وي دي دوریځو او بارانو صفت او ستاینه ددې لپاره کوي او دغه شیان ئي ځکه خوښېږي چه دغه شي دده دژوند او بقاء اساسي وسیله ده .

دي دبارانونو په اوریدلو ځکه ډېر خوشحالیږي چه په بارانو ورشوګانې تاندېږي او دده درمو او څاروو دپاره واښه ډېرېږي او ددغه کار په اثر دده اقتصادي بنیه تقویه کیږي ، دي په دغو طبیعي مناظرو کښې بې دمادیاتو څخه بل شي ته توجه نه کوي او دا ځکه چه دشیانو حقایقو ته ځیر کیدل دهغو خلکو کار دي چه دهغو دماغونه دمدنیت سره آشنا او دادبي ذوق خاوندان وي ، دعبقري او لوړ فکر خاوندان دطبیعي مناظرو په تحلیل کښې دښکلو تشبیهاتو څخه کار اخلي ددې خلکو دخیال بازونه تل دبکر مضمون او نا آشنا ؤ تشبیهاتو په ښکار پسي په لوړو ژورو غرورغو کښې لالهانده ګرځي او دشاعر دپاره ډېر لوړ فکرونه او ژور خیالونه را پیدا کوي . دسارائي شاعر مضمون تل احساسات وي لیکن مدني شاعر دژوندانه احساسات دحس او شعور سره یوځای کوي ، مدني شاعر دژوندانه خصائص تصویروي او تل دا کوښښ کوي چه دطبیعي مناظرو په وسیله انسان دژوندانه په راز او مفهوم پوه کړي او دتورو او الفاظو په هینداره کښې خلکو ته دهغو نواقص څرګند او هغوی دسم ژوند په سمه لیار روان او دسعادت پړاو ته ئې ورسوي ، بدوي شاعر دبدوي مناظرو په تصویرونو کښې کمي نه کوي بلکه

لیکونکی : هربرت پنزل دښاغلی سعد الدین ترجمه

د پښتو لیکپوهه

هغو خلکو ته چه په ژبو کښی تاریخی څېړنی کوی املا اولیك پوهه (چه دژبی قلمی څېړې دی) ډېری مهمی او اساسی پنګی دی . داسی ژب پوهان شته دی چه هغوی دیوې ژبی دویلو اولیك ترمنځ مناسباتو ته هیڅ اهمیت نه ور کوی . دارښتیاده چه په ایشیائی ژبو کښی عموما دویلو او لیکلو ترمنځ اختلاف شته . خو باید دې ته پام وشی چه همدغه اختلاف دژبی دپراخوالی دپاره ډېر خدمت کړی دی . دداسی ژب پوهانو داسر سری تحقیق داعتماد وړ نه دی او داسی څېړنه دنوی په ناخبری دلالت کوی .

دژبی دویلو اولیکلو ترمنځ چه کوم ارتباط شته هغه دیوه ژب پوه دپاره کافی استناددی په تیره بیا که دا ارتباط دژب پوهانو په ترسیمی تخنیك حل کیدای شی . دلیك اوغږ تړون (دیولفظ لیکه اولوسته) ، دیولفظ طبیعی لیکنه او نور په ټولو شرقی لیك لرونکو ژبو کښی لیدل شوی او همدغه شان روابط باید په نورو ژبو کښی هم ولټول شی .

ددې مقالې مقصد دادی چه دپښتو دمحلی غږیدا اولهجو مناسبت داوسنی پښتو لیکنی (رسم الخط) سره مقایسه اومطالعه کړو او پس له هغه به دپښتو بی غږه (Consonant) اوغږیز (Vow) توری اودهغو مقایسه دپښتو د مختلفو لهجو سره وګورو .

---

*

دی دمناظرو دتصویر ولو په ابداع کښی پوره زیار باسی اودا کوښښ کوی چه په دی لیار کښی دعبقریت مقام ته ځان ورسوی لیکن بدوی شاعر که دعبقریت مقام ته هم ورسېږی نودی دمحسوساتو دلومی څخه ځان نشی خلاصولای ، دی په وریځو کښی دبرېښنا دپړکېدو څخه په ځلانده بوره اودبرق درنا څخه دراهب دهغې خونی په روښانه ډیوه تعبیر کوی چه په خوشی ډاك کښی ودانه وی .

بدوی شاعر وریځی ته یوډېرلوی سخی سودا ګروائی چه دی په ونو ، بوټو رنګارنګ ښکلی کالی ویشی لنډه داچه بدوی شاعر داحساساتو په کلا کښې بند او ګیروی لیکن مدنی شاعر ددغو انسانی احساساتو سره علم اوشعور ملګری کوی او په دغه وسیله معقولات د محسوساتو په بڼه کښې خلکو ته وړاندی کوی .

په پښتو کښې ډېرې لهجې دي خوله دغو څخه دادري کثیرالاستعمالي او مهمې دي.
(۱) دپېښور پښتو (۲) دمشرقي پښتو (۳) دقندهار پښتو.

ددې درې واړو لهجو توپیر په لیك کښې نه ښکاري خو مونږ به وګورو چه دقندهار دلهجې او دپښتو داوسني لیك پوهې ترمنځ یو کلك تناسب موجود دي حال داچه هغه نوري دوه څانګې (مشرقي او پېښوري پښتو) او د هغو نورو اړه ملحقات د پښتو دمرو جې املا سره توپیر لري.

مونږ نه شو کولی چه دپښتو دلیك دمنځ ته راتلو او انکشاف یو تاریخ ولیکو ځکه یو خو تاریخي اسناد زمونږ سره نشته چه ورته مراجعه وشي او بل دا چه هغه اسناد چه شته هم ډېر لږ دي چه هر ژب پوه ته نه پیدا کېږي.

۲- په افغانستان او پښتونستان کښې په عربي تورو لیکل کېږي او هم په پښتو کښې هغه عربي توري چه په پارسي کښې استعمالېږي هم کار ورکوي، علاوه پردي پښتو اته توري نورلري چه بوبه پښتو توري دي او عربي او فارسي ئې بېخي نه لري هغه دادي:

ړ (rr) (rree) ، ڼ (nn) (nnun) ډ (dd) (ddal) ، ټ (tt) (ttee) ښ (ts) (tsee) ،

ږ (dz) (dzee) څ او بې غږه توري: «ss» «ssee» ، ځ (zz) (zzee)

دپښتو ګرامر لیکونکي دپښتو توري ۳۰ ښئي:

۱، ب، پ، ت، ټ، ج، چ، خ، څ، ځ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ك، ګ، ل، م، ن، ڼ، و، ی.

همدغو تورو ته په پښتو کښې اصلي توري وائي، دپښتو په ګرامر کښې هغه توري چه خالص عربي دي بیل ځای لري هغه دادي: ف، ق، ع، ح، ط، ص، ث، ض، ذ، ظ، دغو تورو ته مستعار توري وائي:

دهغو پاسنو عربي تورو څخه چه پاس ولیکل شو یوا ځي څلورو ته ئې په لاتین کښې مستقل توري شته چه (F = ف O = ق H = ح A = ع) او نورو ته ئې دلاتین توري په هغه صورت نشته

(۳- دپښتو دپاره لاتین توري:

دا ښکاره خبره ده چه دعربي دهر توري دپاره داسې لاتین توري کېنول چه بېخي ورسره توافق ولري ناممکن دي خو ثابته ده چه آریائي ژبې او غږونه له عربي نه لاتیني غږو او تورو ته نږدې دي.

دپښتو دپاره لاتین توري راوستل اوس په افغانستان کښې تر بحث لاندې دي، خو تر اوسه کوم رسمي اقدام ندي شوي رسمي ځایونه پښتو دعربي په یو مخصوص رسم الخط لیکي هغه مستشرقین چه دپښتو په باب کښې پلټنې کوي لکه راورتي بېلیو، ترومپ، روس کپل، او نورئي په بېلو، بېلو نښو او علامو لیکي.

که و غواړو چه دپښتو دهر غږ لرونکی توری دپاره یو یو لاتینی توری وتاکو دا به ضرور شی چه لاتینی توری ورته زیات کړو، نو د دی دپاره باید دې لاندنیو لارو ته پام وشی.

دنوروژبو څخه دې توری پوره کړی شی لاتینی هر راز توری دی پکار وا چول شی لکه: لوی توری (.. A,B,C او واړه توری a;b c نوی توری دی جوړ او چاپ شی څو لاتین توری دی دیو پښتو غږ دپاره استعمال شی لکه غ «gh» په دی تولو لارو کښی دا آخری لار آسانه او مناسبه او لکه nn ن، او نور، همدی توگی ته Cluster یا یو ځای لیکل یا (مرکب نویسی) وائی او دا په پښتو کښی آسانه ده ځکه دا ژبه لکه عربی داسی توری نلری چه لکه ح، ه، ص، س، ث، په ویلو کښی سره نژدی وی.

که چیرته پښتانه غواړی چه دعربی تورو په ځای لاتین توری استعمال کړی ښائی چه ددواړو ژبو مناسبت ته پوره پاملرنه وشی داخو آسانه ده چه سړی یو اځی عربی توری په لاتین تورو بدل کړی خو باید داهیر نشی چه که دپښتو عربی رسم الخط کولی شی چه ددی ژبی ټول رموزات او اشارات په لیک راولی نو لاتینی رسم الخط هم باید دا کار پغاړه واخلی.

مونږ دپښتو Retroflecx توری په مرکبو لاتینیو تورو لیکو لکه: (رر، rr، نن، nn، او نور) چه په اوسنۍ پښتو کښی په دی ډول راځی چه یو (ر،ر) ولیکی او ترلاندی ئی یو پنډ کی ورپوری و نښلوی چه د (ړ) شکل پیدا کړی او همدغسی nn ن شکل مومی او همدغسی ډ، DD ټ TT په پښتو کښی zh او sh هم لکه دعربی ز، اوش راځی خو دتکو په ایښودلو کښی تو پیر سره لری په پښتو کښی دزاوښ په شکل راځی دپښتو دغ اوخ دپاره په لاتین کښی (gh) او (kh) شته دپښتو د اوږدو (ممدوده) غږ لرونکو تورو له پاره ښائی دلاتین دوه یو رنگی غږ لرونکی Vowel توری ولیکو لکه: (oo,aa,ee) داوږدو (ی آ، و) دپاره البته دلنډ (ی، ا، و) دپاره لاتین (o.a,e) په مفرد صورت بسیا کوی.

له دی کبله چه پښتو تر اوسه یو رسمی لاتین رسم الخط ځانته ندی غوره کړی باید د تورو په انتخاب کښی ډیره پاملرنه وشی چه هر پښتو توری دی په مناسب لاتین توری بدل شی.

دامریکا د (جارج ټون) دیونیورستی دژبی او ژب پوهانو په څانگه کښی چه زده کوونکو ته پښتو ورښودله کیده د سبق د آسانتیا دپاره ئی دالاندې تعدیلات کړی وو، معروفه (ی او و) ئی په (ee او oo) نه بلکه یو اځی په (e او o) ښودلی ؤ، د (غ) په ځای ئی چه باید (gh) شی (r) راوستی ؤ [داد (غ) تلفظ په (ر) سره د فرانسوی ژبی خاصه ده په هغی ژبی کښی (ر) په (غ) اوړی. مترجم]

او د (خ) (kh) په ځای ئی (hh) راوستی ؤ. همدغه دغربیانو اختلاف دپښتو په لیکلو کښی

ددی سبب گرځیدلی چه پښتو یو ثابت او منلی لاتین سیستم نلری اوله همدی کبله پښتو او نور پښتنی نومونه کله په فرانسوی او کله په انګلیسی رسم الخط لیکل کیږی لکه: کابل چه ځینی Kabul او ځینی Kaboul لیکی . ځینی پښتو Pushto ځینی ئی Pashto او ځینی نور ئی Paxto لیکی .

ای ، ې برتل روسی متخصص چه په پښتو کښې ئی زودن د کشنری لیکلی د عربی تورو په ځای ئی لاتینی توری د پښتو د پاره غوره کړی دی .

د پښتو د غږو لیکل

د پښتو د خچ په ټاکلو کښی هم ښائی ډیره پاملرنه وشی ، د قندهار پښتو دری ډوله خچ لری ، جګ خچ ، غلی خچ ، متوسط خچ دا جملی په غور ولولیء

نن (شن) (به) ده

نن (شن) (به) ده ؟

په پورته مثالو کښی یوه خبریه او بله استفهامی جمله ده ، خو د غږ له پلوه د دواړو جملو «شنبه» یو راز تلفظ کیږی ، یو اځی فرق د (ده) په تلفظ کښی دی .

که څه هم د پښتو ګرامر لیکونکی خچ ته اهمیت نه ورکوی خو مختلف غږو نه په راز راز علامو او نښو لیکی لکه سوالیه ، ټکی ، شارحه او کامه ..

د لغاتو سرحدونه په پښتو کښی په مشق او تمرین سره پیژندل کیږی ، ځینی لغات په ځینو ځایو کښی یو ځای او په نورو کښی سره جلا لیکل کیږی ، لکه نه (No_t) او په (In) چه هم لکه (را نغلل) او (پخپل) چه هم یو ځای او هم بیل لیکل کیږی له همدی کبله د تورو ترمنځ سرحدونه یوه مستشرق ته ډیر عجیب شی ښکاری مونږ داسی ډیر ګورو چه دوه هم شکله توری سره نښتی وی بی لدی چه کوم واول توری ئی په مینځ کښی راشی ، لکه چه سړی و لیکی tter تټر ، ممند Mmand او همدغسی دری او (ooo) هم راځی لکه Ssooonkai ښوونکی ، د افغانستان په پښتو چاپی تورو کښی عربی علامات نه لیکل کیږی خو د پښتو ګرامر پوهان لنډ غږ په څلورو برخو ویشی ، زور ، زیر ، پیښ ، زور کی ، یوه لنډه کرښه د معروفی (ی) د پاسه ایښودل کیږی چه د نورو (ی) ګانو سره ئی تو پیرو شی خو اوس دا نښه په پښتو کښی هیڅ نه استعمالیږی .

(ا ، ه ، و ، ی) هم د لنډو غږ لرونکو تورو د ښودلو د پاره پکار یږی او له همدې کبله ئې افغانی ګرامر لیکونکی مرستیال توری بولی .

د لاتین a په پښتو کښی د (۱) شکل لری لکه انا Anna دا (a) د هغه e او a سره تو پیر لری

جه په Malakh یا Malekh کښې راځي او کله (e) او (a) دh، (ه) شکل نیسي لکه یوه (مذکر) (Yaweh) او یوه (مونث) (yawah) . افغانی گرامر لیکونکی عموما e او a ته ده ه (h) دوه شکلونه وائي (e) دهمزه په شکل هم راځي خو دا تجویز په هغه کنفرانس کښې رد شو کوم چه په ۱۹٤۸ کښې په کابل کښې جوړ شوی ؤ .

دهمزی علامه تر اوسه هم په «ی» لیکل کیږي خو د (ی) په سر د (ی ء) په شکل لیکل کیږي لکه (تاسی لیکی ء) (I) او (U) په الف ښودل کیږي خو په دی وروستیو وختو کښې ډیر خلک د دی پرخوادی چه د دی دپاره (ای) او (و) ولیکی .

د ۱۹٤۰ کال په کنفرانس کښې داهم و غوښتل شو چه ځنی دې د ځینی او کچنی دې د کوچنی په شکل ولیکل شی . افغانی گرامر پوهان ټول د دی پرخوادی چه د (زیر) په ځای دی (ی) : دپیښ په ځای دی (و) ولیکل شی ځکه چه دا په تلفظ کښې شک او شبه ورکوی غږ لرونکی (Vowel) اوږد غږ aa په الف لیکل کیږي خو په سر کښې ئی یوه کرښه ورکول کیږي لکه aashna آشنا . گرامر پوهان اوږد الف ته ولاړ الف وائي چه د دوو لنډو الفو څخه جوړ شوی دی (ee) اوس هم په مجهوله (ی) لیکل کیږي او د دی دپاره چه د نورو (ی) گانو څخه ئی توپیر وشی نو ترلاندی دوه ټکی یو د بل د پاسه ورکول کیږي چه د (ې) شکل ونیسي . پخوا به د (ې) په ځای اوږده چپه (ی) د (ی) په شکل راتله دا توری په اردو اوزړی پاړسو کښې هم لیدل کیږي . د ۱۹٤۸ کال یوه فیصله داده چه ملینه (ی) دی . تش د (ی) په صورت ولیکله شی لکه سړی . oo د (و) په صورت لیکل کیږي لکه: (moor) (مور) او ملینه (و) لکه پلو Palaw گټو Kattew خو دا آخری شکل په پښتو کښې ډیر لږ پیدا کیږي . واو که معروف وی که مجهول که ملینه وی که ثقیله ټول د (و) په شکل راځي او بل هیڅ علامی ته ضرورت نلري .

ی ei : ته ثقیله تأنیثیه (ی) وائي ځکه چه د مونثاتو دپاره استعمالیږي د (cy) ئی سره دا توپیر لري چه آخر کښې ئی یوه لکۍ ورکول کیږي لکه (ډوډۍ)

دواواوتورو لیکل به په‌لاندی جدول کښی وښیو

غبرونه	ړومبنی شکل	منځنی صورت	وروستنی اواوسنی صورت	
a	I	.		ه
e	I	.		ه
i	I*ی	ی	y	ی
u	ا*و	و	w	و
«ii»i	ا*ی	ی	y	ی
«uu»u	ا*و	و	w	و
«aa»	ا*ا	ا	a	ا
ee	ا*ی	ی ٔ	y	ی ٔ ی ٔ
oo	ا*و	و	w	و
ay	ا*ی	ی	y	ی
[aw ew	ا*و	و	w	و
i	.	.	.	ی

دپښتو (Consonant) صامت غبرونه

دپښتو صامت توری دقندهار دپښتو په‌اعتبار په‌لاندی ډول سره دی

	labial	dental	alveolar	prepabtal	relar	glottal
Semivowels	w	.	.	y	.	.
	و			ی		
Liquids	.	.	lr	rr	.	.
		.	ړل	ړ		
nasals	m	n	.	nn	.	.
	م	ن		ڼ		
stops	p b	t d	S Z	tt rd	K g	q ع
	ب پ	ډ ټ	ز س	ډ ړ	گ ك	ق
Spirants	f	.	sh zh	ss zz	kh gh	h h
	ف	.	ژ ش	ږ ښ	غ خ	ح ه

په پښتو کښی دا ټول توری په کاریږی او هر یوه ته‌ئی بیله بیله علامه‌لری . علاوه پر دی مو نږ نور توری هم لکه څ ، ځ او نور مو موچه یوا ځی دپښتو دی.

دا لاندی توری په ځینو لهجو کښی نشته ع. ف. ق او همدغه د ، ف او ق نژ دیوالی د (پ) او (ك) سره دی چه ډیر پښتانه‌ئی یو دبل په ځای استعمالوی لکه ځینی اروپا اروفا بولی او بیا Fothov فادر (پلار) ته پادروائی .

له ټولو څخه د دلچسپۍ وړ هغه عربي ټوري دي چه د پښتو په املا کښې ئې بيخي د پښتو رنګ آخستي لکه ړ، ڼ، ټ، ډ، ځ، څ (چه د عربي د تورو په شکل راځي)

rrund لکه rr ړوند په (ر) ليکل کيږي خو ترلاندي يو پېند کي ور کوي او همداد (ر) او (ړ) مشابهت دي چه افغاني ګرامر ليکونکي (ړ) د (ر) شکل نيسي (ړ) د (ر) او (ل) ترمنځ تلفظ کيږي.

د (nn) د پاره دوه علامې دي (ڼ) او (نړ) لکه مڼه، کوڼ، منړه، کونړ، manna او manra ليکل کيږي خو د ۱۹٤۸ کال په کنفرانس کښې د (نړ) شکل بيخي لغو شو. غالبه داده چه د (نړ) علامه پخوا د (ڼ) د ښودلو د پاره استعمال کيده او س چه ورته مستقل توري جوړ شول نو هغه پخواني شکل پر ښودلي شو.

ډ، ټ dd او tt د عربي د (د) او (ت) په شکل راځي خو ترلاندي يو پېند کښې ور کول کيږي داسي پته نشته چه ګوندي دا توري دي د هندي ژبو څخه پښتو ته راغلي وي ځکه چه دا توري يوا ځي د پښتو په اصلي لغاتو کښې په مستقل صورت راغلي. په پخواني آثارو کښې د عربي (د) او (ت) د پاسه ځلور ټکي ليکل کيده چه دا دارو دو څخه اخستل شوي و. د پښتو (ډ) او (ټ) د لاتيني d او t څخه لږ څه د روند تلفظ کيږي.

عربي h يا (ح) علامه چه په سر باندي ئې څلور ټکي دي (څ) ده. لاتين ئې (ts) دي چه د فارسي چ او عربي ج په دود ليکل کيږي.

د څ علامه پخوا د (ځ) sd د پاره هم استعماليده او اوس هم په پيښور او پښتونستان کښې همدا مروج دي، د zd د پاره په افغانستان کښې اوس د (ځ) علامه جوړه شوې ده.

په لمر ختيز افغانستان کښې ځ، د (ز) او (څ) د (س) په شکل راځي په لغمان کښې ځ د (ز) او ځ د (څ) په شکل راځي.

د قندهار او خوست په خوا و کښې ځ د (ځ) او څ د (څ) په توګه تلفظ کيږي. او کله دواړه د (څ) په وګ تلفظ کيږي افغاني ګرامر ليکونکي په خپل کتاب کښې د دغو اختلافونه ذکر کوي. د تاريخ له نظره د څ او ځ توري مفرد نه بلکه مرکب دي د پښتو څ او ځ د اوستا د (V) سره يوشي دي لکه پښتو څلور Tsaloor او اوستا Ca Qwaro

د zz د پاره په پښتو کښې عربي (ر) او يو ټکي د پاسه او يو ترلاندي ليکل کيږي چه د (ږ) شکل ونيسي. (ږ) د (ز) او (ژ) سره ټينګه علاقه لري او همدغسي د ss د پاره (ښ) ليکي چه د س او ش ترمينځ يوغږ دي. ښ او (ږ) هم په محلي لهجو کښې سره فرق کوي د پيښور پښتو کښې د (خ) او (ګ) په کويټه کښې د (ش) او (ژ) په صورت تلفظ کيږي.

ښ: ـ پښه، پخه، پشه

ږ: ـ ږیره، ژیره، گیره

(ښ) او (ږ) په شرقی پښتو نخوا کښې عموماً د گ اوخ سره نژدی تلفظ کیږی د (ږ) او (ژ) او د (ښ اوش) فرق یواځی په قندهاری پښتو کښې کتلی شو. که څه هم خارجیانو پخواهم (ږ) او (ښ) ته پام ؤ خودی ته نه وو متوجه چه یو خارجی دا توری د (ش) او (ژ) سره نشی بېلولی. په پښتو کښی د (ځ) دپاره هم جلا تلفظ موجود دی یو قندهاری ئی هېڅکله د عربی (ز) سره نه گډوی. او همدغه د قندهار د ژبی مزیت دا نتیجه ور کړه چه خلك قندهار د پښتو زانگوو گڼی. د قندهار پښتو راښئی چه د پښتو ږاوښ د pro Iranian ژبی څخه آخیست شوی. د پښتو اوښ (uss) د اوستا ustra د پښتو ځلویښت tsalweesst او د اوستا Goqwardsata. د پښتو غوږ ghwazz او د اوستا gaosa، د پښتو mazz مېز او د اوستا maesa ټول دا ادعا تائیدوی.

زمونږ مطالعه د پښتو په ژب پوهئ او دهغی په مناسبت د غږو سره لږ لږ واضحه شوه ځینی غږونکه له ږاوژ په ښه شان ئی فرق نه کیږی، او لکه y د معروف او مجهول (ی) دپاره، w د معروف مجهول (و) دپاره، زور، د الف او نورو لنډو او لو دپاره دا ټول د دې نتیجه ده چه په پښتو کښی راز راز لهجی موجودی دی چه ډېر توری په لږ توپیر سره تلفظ کیږی. او عربی غږونه هم ورسره گډ شوی دی. که څه هم په دی آخرو وختو کښې د پښتو ژب پوهی ته کافی توجه شوی، څ، ځ، ڼ په مستقل صورت په ټولو پښتو لیکوالو کښې پوره رواج لری.

د پښتو د ټولو لهجو مقایسه راښیی چه د قندهار لهجه د راز راز غږو دپاره واضح او ښکاره معیار و نه لری، په نورو لهجو کښې د پښتو لغات په څوډوله لیکل کیږی زلمی، ځلمی، سوك څوك، پختو، پښتو، خو په قندهاری لهجه کښې رسم الخط د اصلی غږ سره توافق لری او د نورو لهجو سره ئی فرق هم راتلی شی چه همدا توافق دا نتیجه ور کوی چه د الهجه باید د پښتو رسمی لهجه و پیژندله شی او قندهار د پښتو زانگوو گڼل شی. د اوسنۍ مختلفو لهجو توپیر د قندهار د لهجو څرنگه والی او دهغې مقایسه او د نورو لهجو سره زمونږ ادعا ثابتوی. (پای)

دپښتو ټولنې دیوه کال کارونه

هر کله چه پښتو غوښتونکی دپښتو ټولنې له کارونو سره مخصوصه علاقه لری او په ځیر ځیرورته گوری لازمه ده چه دهر کال د کار راپور دعلاقمندانو داطلاع دپاره خپور کړو اوخپله ناکامی یا کامیابی له چانه پټه نه کړو . دلته بایدد اهم و و ایو چه زمونږ نشراتی کال زمونږ دخپلواکۍ دجشن څخه شروع کېږی اودبل کال تر دغه وخته پوره کیږی، نوپه دغه لحاظ زمونږ د ۱۳۳۵ دسنبلې نه راپدې خواد ۱۳۳۶ ترسنبلی پوری دپښتو ټولنې کار ښاغلو لوستونکو ته څرگندوو:

د کتابونو چاپول: کوم کتابونه چه پښتو ټولنې چاپ کړیدی ،لسو جلدوته ئې شمېر رسېږی چه ځینی غټ او ځینی کوچنی دی او دټولو چاپ کړو مخونو تعداد (۱۹۰۳) دی. چه په دی کتابونو کښی دښاغلی عبدالله خان افغانی نویس تألیف دوه جلده افغان قاموس هم شامل دی .

ددغه کال نور کتابونه دادی: لوړ خیالونه اوژور فکرونه دالفت اثر، پښتو نثرونه دژواك اثر، پرېشانه افکار دښاغلی بینوا اشعار، نړۍ په ۲ زرم کال کښې دښاغلی واسعی ترجمه، داورلمبې دښاغلی غلام غوث خیبری اثر، دحنان قندهاری دیوان، منطق د الفت اثر، پښتانه داقبال په نظر کښې دښاغلی بختانی اثر، دکابل مجلې دمیاشتی دوه ځله چاپول اوخپرول .

ددې، کتابونو په چاپولو کښې ددولتی مطبعې مرسته له پښتو ټولنې سره دیا دولو حق لری اومونږ ورته په ښه نظر گورو،

دا کار ښائی چه دخلکو دغوښتنې په نسبت لږ وی او دپښتو ژبې دضرورت او احتیاج په مقابل کښې څه نه وی، مگر دوسائلو او امکاناتو په لحاظ ورته ډېر لږ نه شوویلی او له تېرو کلونو نه ئې تعداد کم نه دی، که مونږ دېته و گورو چه په هغه بل کال کښې دوه کتابونه (دملنگ جان دیوان- پښتنی سندرې دوهم ټوك) چاپ شوی دی او په دغه کال کښې دچاپ شو و کتابونو شمېر لسو ته ورسېده نو لږ عوندې امید هم پیدا کېږی چه گوندې وروسته تردې نورهم دپښتو اثارو چاپول زیات شی.

دنوو غړو پیدا گول: داخبره به دلیل او برهان ته څه ضرورت نه لری چه د کار سړی د کار په پیشرفت کښې ډېره اغیزه لری او هره ټولنه دخپلو غړو او کار کوونکو په تناسب خپل کار زیاتولی او ښه کولی شی، پښتو ټولنې ددغه ضرورت په وجه دخپلو اعضاؤ زیاتولو ته ډېره توجه و کړه او دائې لازمه و گڼله چه دهر ځای ځینې پښتانه پوهان د پښتو ټولنې عضویت ته راوبولی ، په دی کار کښې هم دومره موفقیت حاصل شو چه پنځه تنه مسلکی

کار کوونکی ئې په خپله ټولنه کښې زیات کړه او دا کوښښ نور هم جاری دی چه باید پښتو ټولنه د کار د اشخاصو په لحاظ له فقره نجات ومومی، دا اشخاص له دغو ښاغلو څخه عبارت دی:

ښاغلی عبدالشکور رشاد فندهاری د پښتو ټولنی مرستیال، ښاغلی عبدالخالق واسعی د لغاتو د څانګی مدیر، ښاغلی عبدالغنی خان، ښاغلی محمد ابراهیم خان ثابت، ښاغلی حبیب الله تبزی د ادبیاتو د پوهنځی فارغ التحصیل.

تشکیلات: د پښتو ټولنی د تشکیلاتو په باب هم په دغه کال کښې یو څه تعدیلات واکمنی جرګی ته وړاندی شوه او په دغه جرګه کښې ومنل شوه چه هغه دا دی:

۱: دوه تنه اعضأ باید په لومړۍ رتبه د مشاورو غړو په حیث او په دغه وسیله دا امکان پیدا شو چه پښتو ټولنه رتبه اول اشخاص بخپل عضویت ومنلی شی او د عضویت د پاره تر لومړۍ رتبی پوری د ترقۍ زمینه مساعده شی.

۲: د پښتو ټولنی د اصلی اعضاؤ د پاره یو معین تعداد قبول شو او دا معلومه شوه چه پښتو ټولنه شل تنه اصلی اعضأ په مختلفو رتبو منلی شی او دا کیدی شی چه یو عضوه له نهمی رتبی نه تر لومړۍ رتبی پوری ترقی وکړی شی.

۳: یو مدیریت د تصحیح په نامه زیات کړی شو چه د کتابونو په چاپولو کښې ئې خپل زیات تاثیر وښود.

٤: د پښتو ټولنی د معاون بست له «۳» رتبې څخه «۲» رتبې ته پورته وخوت.

٥: هغه امتیازی معاش چه د پښتو ټولنی په اساسنامه کښې د مسلکی کار کونکو د پاره لکه د معارف د معلمینو په شان منل شوی و، اجرا شو او په دغه باب کښې د یوه ښه کافی او مناسب امتیاز کوښښ هم جاری دی.

٦: د پښتو ټولنی په بودجه کښې د کتابونو چاپولو او نورو ضروریاتو د پاره هم د نورو تکالیفو پیشنهادونه د پښتو ټولنی د پښتو د پیشرفت او د پښتو ټولنی د کارونو په باب واکمنی جرګی ته شوی دی او هیله ده چه بی نتیجې به پاته نشی او بی تاثیره به نه وی

پښتو او د پښتو ټولنی معرفی په خارج کښې: په دغه کال کښې د پښتو ټولنی رئیس له هیواد نه د باندی مسافرتونه هم وکړه چه د پښتو او پښتو ټولنې په معرفۍ کښې ئې یو څه زیاتوالی راووست کله چه د پښتو ټولنې له خوا د رحمان بابا د مزار ګټې پېښور ته (خادم، رښتین الفت) و یوړلی نو هلته د دوی تماس د هغه ځای له ادباؤ او فضلاؤ سره ډېر مفید واقع شو چه د ادبی تعلق او پېژند ګلوۍ په ټینګار او د ادبی بحثونو د شروع کولو په لحاظ ئې

ډېر قیمت درلود .

همدارنګه دپښتو ټولنی درئیس تګ اتحاد جماهیر شوروی ته د پښتو ټولنی له نقطهٔ نظره ډېر اثر درلود چه تفصیل ئی په دې مختصر راپور کښی نه ځائیږی .

دغربی المان په مونشن کښی چه د شرق شناسانو کنفرانس منعقد شوا و د پښتو ټولنی رئیس هم د دغه کنفرانس دشمول دپاره هلته واستول شو، دالومړی ځل ؤچه د پښتو ټولنی پښتو کتابونه د شرق شناسانو مرکزی اداری ته په یوه کافی تعداد ورکړه شوه او په یوه مهم ځای کښی ئی ځای پیدا کړ، همدارنګه په دغه کنفرانس کښی د پښتو ټولنی دهدف او مرام معرفی کول او د پښتو ټولنی د کار او فعالیت ښودنه دخوشحال خټک دشخصیت او ملی مجاهدو او شعر و شاعری ښودنه یو مفید اقدام ؤچه په دغه کال کښی ورته زمینه مساعده شوه

دغه کتابونه چه په پښتو ټولنه کښی

لیکل شوی یا تر لیکنی لاندی دی:

په دغه کال کښی ښاغلی رشاد یو کتاب د (لودی پښتانه) په نامه په (۷۵۰) مخو کښی ولیکه چه دچاپ دپاره اماده دی . همدارنګه یو بل کتاب د پښتنی دودونو په نامه چه دننګرهار، قندهار، پکتیا، او دغزنی دشاوخوا پښتنو دمړی اوژوندی دودونه رواجونه څرګندوی څه تنو لیکلی او تر چاپ لاندی دی، دسیرة النبی دریم ټوک ښاغلی سیفی تر (۵۵۰) مخوله اردو څخه پښتو ترجمه کړی او نور هم ترجمه کوی .

نړۍ په ۲ زرم کال کښی چه په دغه کال کښی چاپ شو په هم دغه کال کښی ښاغلی واسعی ترجمه کړی هم دی .

د «کیف تتکامل الشخصیة» د کتاب ترجمه دښاغلی واسعی له خوا تر اوسه (۱۰۷) پاڼی شویده او نور هم ترجمه کیږی ، په افغانستان کښی د پښتو چاپ شو یو اثار و فهرست دښاغلی راز محمد ویښ له خوا په (۲۰۰) پاڼو کښی لیکل شوی او دغوره نثرونو کتاب دښاغلی حسن ساپی تدوین دادبیاتو دمدیریت له خوا په (۱۲۱) پاڼو کښی .(اداره)

ښ: ـ پښه، پخه، پشه

ږ: ـ ږیره، ژیره، گیره

(ښ) او (ږ) په شرقی پښتو نخوا کښې عموماً د گ اوخ سره نژدی تلفظ کیږی د (ږ) او (ژ) او د (ښ اوش) فرق یواځی په قندهاری پښتو کښې کتلی شو. که څه هم خارجیانو پخواهم (ږ) او (ښ) ته پام ؤ خودی ته نه وو متوجه چه یو خارجی دا توری د (ش) او (ژ) سره نشی بېلولی. په پښتو کښی د (ځ) دپاره هم جلا تلفظ موجود دی یو قندهاری ئی هېڅکله د عربی (ز) سره نه گډوی. او همدغه د قندهار د ژبی مزیت دا نتیجه ور کړه چه خلك قندهار د پښتو زانگوو گڼی. د قندهار پښتو راښئی چه د پښتو ږ اوښ د pro Iranian ژبی څخه آخیست شوی. د پښتو اوښ (uss) د اوستا ustra د پښتو ځلویښت tsalweesst او د اوستا Goqwardsata. د پښتو غوږ ghwazz او د اوستا gaosa، د پښتو mazz مېز او د اوستا maesa ټول دا ادعا تائیدوی.

زمونږ مطالعه د پښتو په ژب پوهی او دهغی په مناسبت د غږو سره لږ لږ واضحه شوه ځینی غږونکه له ږ او ژ په ښه شان ئی فرق نه کیږی، او لکه y د معروف او مجهول (ی) دپاره، w د معروف مجهول (و) دپاره، زور، د الف او نورو لنډو او لو دپاره دا ټول د دې نتیجه ده چه په پښتو کښی راز راز لهجی موجودی دی چه ډیر توری په لږ توپیر سره تلفظ کیږی. او عربی غږونه هم ورسره گډ شوی دی. که څه هم په دی آخرو وختو کښې د پښتو ژب پوهی ته کافی توجه شوی، څ، ځ، ڼ په مستقل صورت په ټولو پښتو لیکوالو کښې پوره رواج لری.

د پښتو د ټولو لهجو مقایسه را ښیی چه د قندهار لهجه د راز راز غږو دپاره واضح او ښکاره معیارونه لری، په نورو لهجو کښې د پښتو لغات په څوډوله لیکل کیږی زلمی، ځلمی، سوك څوك، پختو، پښتو، خو په قندهاری لهجه کښې رسم الخط د اصلی غږ سره توافق لری او د نورو لهجو سره ئی فرق هم راتلی شی چه همدا توافق دا نتیجه ور کوی چه دا لهجه باید د پښتو رسمی لهجه و پیژندله شی او قندهار د پښتو زانگوو گڼل شی. د اوسنۍ مختلفو لهجو توپیر د قندهار د لهجو څرنگه والی او دهغې مقایسه او د نورو لهجو سره زمونږ ادعا ثابتوی. (پای)

دپښتو ټولنې دیوه کال کارونه

هر کله چه پښتو غوښتونکی دپښتو ټولنې له کارونو سره مخصوصه علاقه لری او په ځیر ځیرورته گوری لازمه ده چه دهر کال د کار راپور دعلاقمندانو داطلاع دپاره خپور کړو اوخپله ناکامی یا کامیابی له چانه پټه نه کړو . دلته بایدد اهم و و ایو چه زمونږ نشراتی کال زمونږ دخپلواکۍ دجشن څخه شروع کېږی اودبل کال تر دغه وخته پوره کیږی، نوپه دغه لحاظ زمونږ د ۱۳۳۵ دسنبلې نه راپدې خواد ۱۳۳۶ ترسنبلی پوری دپښتو ټولنې کار ښاغلو لوستونکو ته څرگندوو:

د کتابونو چاپول: کوم کتابونه چه پښتو ټولنې چاپ کړیدی ،لسو جلدونه ئې شمېر رسېږی چه ځینی غټ او ځینی کوچنی دی اودټولو چاپ کړو مخونو تعداد (۱۹۰۳) دی. چه په دی کتابونو کښې دښاغلی عبدالله خان افغانی نویس تألیف دوه جلده افغان قاموس هم شامل دی .

ددغه کال نور کتابونه دادی: لوړ خیالونه اوژور فکرونه دالفت اثر، پښتو نثرونه دژواك اثر ، پرېشانه افکار دښاغلی بینوا اشعار ، نړۍ په ۲زرم کال کښې دښاغلی واسعی ترجمه ، داورلمبې دښاغلی غلام غوث خیبری اثر، دحنان قندهاری دیوان، منطق د الفت اثر، پښتانه داقبال په نظر کښې دښاغلی بختانی اثر، د کابل مجلې د میاشتی دوه ځله چاپول اوخپرول .

ددې، کتابونو په چاپولو کښې ددولتی مطبعې مرسته له پښتو ټولنې سره دیا دولو حق لری اومونږ ورته په ښه نظر گورو،

دا کار ښائی چه دخلکو دغوښتنې په نسبت لږ وی او دپښتو ژبې دضرورت او احتیاج په مقابل کښې څه نه وی، مگر دوسائلو او امکاناتو په لحاظ ورته ډېر لږ نه شوویلی او له تېرو کلونونه ئې تعداد کم نه دی، که مونږ دېته و گورو چه په هغه بل کال کښې دوه کتابونه (دملنگ جان دیوان- پښتنی سندرې دوهم ټوك) چاپ شوی دی او په دغه کال کښې دچاپ شو و کتابونو شمېر لسو ته ورسېده نو لږ عوندې امید هم پیدا کېږی چه گوندې وروسته تردې نورهم دپښتو اثارو چاپول زیات شی.

دنوو غړو پیدا گول: داخبره به دلیل او برهان ته څه ضرورت نه لری چه د کار سړی د کار په پیشرفت کښې ډېره اغیزه لړی او هره ټولنه دخپلو غړو او کار کوونکو په تناسب خپل کار زیاتولی او ښه کولی شی، پښتو ټولنې ددغه ضرورت په وجه دخپلو اعضاؤ زیاتولو ته ډېره توجه و کړه او دائې لازمه و گڼله چه دهر ځای ځینې پښتانه پوهان د پښتو ټولنې عضویت ته راوبولی ، په دی کار کښې هم دومره موفقیت حاصل شو چه پنځه تنه مسلکی

کار کوونکی ئې په خپله ټولنه کښې زیات کړه او دا کوښښ نور هم جاری دی چه باید پښتو ټولنه د کار د اشخاصو په لحاظ له فقره نجات ومومی، دا اشخاص له دغو ښاغلو څخه عبارت دی:

ښاغلی عبدالشکور رشاد فندهاری د پښتو ټولنی مرستیال، ښاغلی عبدالخالق واسعی د لغاتو د څانګی مدیر، ښاغلی عبدالغنی خان، ښاغلی محمد ابراهیم خان ثابت، ښاغلی حبیب الله تبزی د ادبیاتو د پوهنځی فارغ التحصیل.

تشکیلات: د پښتو ټولنی د تشکیلاتو په باب هم په دغه کال کښې یو څه تعدیلات واکمنی جرګی ته وړاندی شوه او په دغه جرګه کښې ومنل شوه چه هغه دا دی:

۱: دوه تنه اعضا باید په لومړۍ رتبه د مشاورو غړو په حیث او په دغه وسیله دا امکان پیدا شو چه پښتو ټولنه رتبه اول اشخاص بخپل عضویت ومنلی شی او د عضویت د پاره ترلومړۍ رتبی پوری د ترقۍ زمینه مساعده شی.

۲: د پښتو ټولنی د اصلی اعضاؤ د پاره یو معین تعداد قبول شو او دا معلومه شوه چه پښتو ټولنه شل تنه اصلی اعضا په مختلفو رتبو منلی شی او دا کیدی شی چه یو عضوه له نهمی رتبی نه ترلومړۍ رتبی پوری ترقی وکړی شی.

۳: یو مدیریت د تصحیح په نامه زیات کړی شو چه د کتابونو په چاپولو کښې ئې خپل زیات تاثیر وښود.

٤: د پښتو ټولنی د معاون ست له «۳» رتبې څخه «۲» رتبې ته پورته وخوت.

٥: هغه امتیازی معاش چه د پښتو ټولنی په اساسنامه کښې د مسلکی کار کونکو د پاره لکه د معارف د معلمینو په شان منل شوی و، اجرا شو او په دغه باب کښې د یوه ښه کافی او مناسب امتیاز کوښښ هم جاری دی.

٦: د پښتو ټولنی په بودجه کښې د کتابونو چاپولو او نورو ضروریاتو د پاره هم د نورو تکالیفو پیشنهادونه د پښتو ټولنی د پښتو د پیشرفت او د پښتو ټولنی د کارونو په باب واکمنی جرګی ته شوی دی او هیله ده چه بی نتیجې به پاته نشی او بی تاثیره به نه وی

پښتو او د پښتو ټولنی معرفی په خارج کښې: په دغه کال کښې د پښتو ټولنی رئیس له هیواد نه د باندی مسافرتونه هم وکړه چه د پښتو او پښتو ټولنې په معرفۍ کښې ئې یو څه زیاتوالی راووست کله چه د پښتو ټولنې له خوا د رحمان بابا د مزار ګټې پېښور ته (خادم، رښتین الفت) و یوړلی نو هلته د دوی تماس د هغه ځای له ادباؤ او فضلاؤ سره ډېر مفید واقع شو چه د ادبی تعلق او پېژند ګلوۍ په ټینګار او د ادبی بحثونو د شروع کولو په لحاظ ئې

ډېر قیمت درلود .

همدارنګه دپښتو ټولنی درئیس تګ اتحاد جماهیر شوروی ته د پښتو ټولنی له نقطهٔ نظره ډېر اثر درلود چه تفصیل ئی په دې مختصر راپور کښی نه ځائیږی .

دغربی المان په مونشن کښی چه د شرق شناسانو کنفرانس منعقد شوا و د پښتو ټولنی رئیس هم د دغه کنفرانس دشمول دپاره هلته واستول شو، دالومړی ځل ؤ چه د پښتو ټولنی پښتو کتابونه د شرق شناسانو مرکزی اداری ته په یوه کافی تعداد ورکړه شوه او په یوه مهم ځای کښی ئی ځای پیدا کړ، همدارنګه په دغه کنفرانس کښی د پښتو ټولنی دهدف او مرام معرفی کول او د پښتو ټولنی د کار او فعالیت ښودنه دخوشحال خټک دشخصیت او ملی مجاهدو او شعر و شاعری ښودنه یو مفید اقدام ؤ چه په دغه کال کښی ورته زمینه مساعده شوه

دغه کتابونه چه په پښتو ټولنه کښی

لیکل شوی یا تر لیکنی لاندی دی:

په دغه کال کښی ښاغلی رشاد یو کتاب د (لوی پښتانه) په نامه په (۷۵۰) مخو کښی ولیکه چه دچاپ دپاره اماده دی . همدارنګه یو بل کتاب د پښتنی دودونو په نامه چه دننګرهار، قندهار، پکتیا، او دغزنی دشاوخوا پښتنو د مړی اوژوندی دودونه رواجونه څرګندوی څه تنو لیکلی او تر چاپ لاندی دی، دسیرة النبی دریم ټوک ښاغلی سیفی تر (۵۵۰) مخوله اردو څخه پښتو ترجمه کړی او نور هم ترجمه کوی .

نړۍ په ۲ زرم کال کښی چه په دغه کال کښی چاپ شو په همدغه کال کښی ښاغلی واسعی ترجمه کړی هم دی .

د «کیف تتکامل الشخصیة» د کتاب ترجمه دښاغلی واسعی له خوا تر اوسه (۱۰۷) پاڼی شویده او نور هم ترجمه کیږی، په افغانستان کښی د پښتو چاپ شو یو اثار و فهرست دښاغلی راز محمد وېښ له خوا په (۲۰۰) پاڼو کښی لیکل شوی او دغوره نثرونو کتاب دښاغلی حسن سایی ندوین دادبیاتو دمدیریت له خوا په (۱۲۱) پاڼو کښی .(اداره)

(۱)

هغه و ویل

دپاك خدای په مقدس نامه ددی کتاب په لیکلو پیل کوم (۱):

هغه غوره او محبوب. هغه چه دخپلی زمانې دسهار ځلاند ستوری ؤ.
په (عرفه) نومی ښار کښی تر دوولسو کلونو پوری دخپل هغه جهاز راتلو ته منتظر ؤ.
چه یوه ورځ په ده پسی راتلونکی ؤ. او دی ئی خپل وطن ته بیوه.
په دولسم کال د (..) میاشتی په (۷) ورځ په داسی وخت کښی چه دد غه ښار خلك په لو، بوخت ؤ، دی له ښار نه لری په یوه غره باندی وخوت او دسمندر خواته ئی په کتلو پیل وکړ.
ده دسمندر په لړو او دوریځو او دوند په ترڅ کښی خپل جهاز خپلی خواته په راتلو کښی ولید، ډېر خوشحاله شو.
له ډېری خوشحالۍ نه ئی دخوشحالۍ وزرونه خپاره کړل دسمندر پرمخ ئی وغوړول، له ډېری خوشحالۍ نه یی په دغه وخت کښی سترګی پټی کړی.
په دی حال کښی دده روح د کامل سکون په حال کښی ددعا دپاره خپل دواړه لاسونه پورته کړل.
مګر هر کله چه دی له دغه غره څخه را کښته کیده نو په دغه وخت کښی ده ته یو راز نامیندی ورپیښه شوه او ناڅاپه ئی په زړه کښی داخیال پیدا شو:
چه زه به له دی ځای څخه څنګه خوشحاله او بی غمه ولاړ شم؟
ای خدایه! زه به له دی ځای څخه څنګه بی غمه او خوشحاله ولاړ شم؟

---

(۱) داپاڼی تمهید او دیباچی ته ځکه اړه نه لری چه داپخپله تمهید او دیباچه ده. اودا اجمال تفصیل ته هم ځکه ضرورت نه لری چه دا اجمال پخپله زما دموضوع تفصیل دی

ای خدایه! زه به له دی ځای څخه هله بی غمه او خوشحاله ولاړشم چه پر خپل روح یو بل زخم و نه لګوم.

ما په دی ښار کښی دغم او خوشحالۍ ډېری شپی، ورځی تیری کړی، که څه هم زما دیوا ځی والی شپی ډېری اوږدی وی مګر سره ددی هم دخپګان او ناکرارۍ شپی نه وی.

نو په دی صورت کښی داخبره امکان نلری چه یو سړی دداسی تکلیفونو په مقابل کښی له خوشحالیو هغه قدر او هوسا یو څخه چه د تکلیف او مسافرۍ په دغو شپو ورځو کښی یی لیدلی وی بی تأثره پاته شی او په هغه وخت کښی چه له دغو مخلصو ملګرو سره وداع کوی دحسرت او خپګان او ښکی ئی په مخ و نه بهیږی.

ما په خپلو ګوتو دخپل روح ډېری توتی په دی خاوره کښی شیندلی دی.

او زما ډېری هیلی او آرزو ګانی چه زما اولادونه دی، ددی غرونو په کاڼو بوتو، شیلو او لمنو کښی لوبی کوی، زه له دغو خپلو اولادونو سره ډېره مینه او علاقه لرم، او له دوی څخه جلا کیدل ارومرو په ما زیات تاثیر کوی او ددوی په په بیلتون ډېر خپه کیږم.

او دا ځکه چه خپل خپلوان او دوستان او ملګری کالی او جامی نه دی چه انسان ئی په خوشحالۍ سره بدل کړی او دځان څخه ئی بیرته ګوزار کړی او ددوی په جلا کیدو هیڅ متأثر نه شی؟ بلکه د آشنایانو او دوستانو او خپلوانو څخه جلا کیدل داسی دی لکه چه انسان دخپل وجود پوستکی دځان څخه لری او جلا کړی او د وجود دپوستکی جلا کول، طبعاً ډېر درد

او تکلیف لری. ما ته ددوستانو څخه بېلېدل داسی ښکاری. لکه چه یو انسان له خپل زړه څخه وینی او توتی جلا کوی.

دا ښار چه ما پکښی شپی، ورځی تیری کړی دی او داخلك چه له ما سره ئی ډېری همدردی کړی دی. کوم فرضی شیان نه دی چه زه ئی بی له کوم خپګان او تأثر څخه پرېږدم او پرې ئې کړم او بی د کوم خپګان او تائژ له احساسه له دی ځای څخه ولاړشم.

داخاوره خوزما دزړه توته او داخلك زما دستر ګو توردی.

زما ګران او هغه مخلص او خواخوږی دوستان دی چه: ما ددوی دلاسه ډېر خوازه خوازه نعمتونه څښلی او ډېری ښیګڼی لیدلی دی.

لیکن سره ددی تولو خبرو زه دلته پاته کېدلی نه شم!

سمندر چه تولو خلکو ته ئی دواړه لاسونه واز کړی او هر څوك په ډېره مینه په غیږ کښی اخلی. ما به هم ډېر زر په خپله غیږ کښی و نیسی.

آخر به زه هم په خپل دغه جهاز کښی سپورشم! او داځکه چه: په یو ځای پاته کیدل، په داسی حال کښی چه دشپی وړانګی هم په حرکت کښی دی.

یو راز جمود او له حرکت نه محرومیت دی. ددی مثال به داسی وی.

لکه چه هوا دواوری په اثر منجمده شی. او په یوه صافه او شفافه ښیښه کښی بنده شی.

زما په دی ځای کښی پاته کیدل امکان نلری!.

ارمان چه ما داتوله خاوره دخپل ځان سره وړی او یا می داتول خلك دخپل ځان سره بیولی وای. مګر څنګه چه آواز له ژبی پیدا کیږی. په خپله

خوځی، مګر ژبه له خپل ځان سره نشی بیولی. آواز مجبور دی چه پوا ځی په خپل مقصد پسی په هوا کښی والوزی.

او دغه راز عقاب!

په کوم وخت کښی چه دی د خپلو قوی وزرونو په مرسته دهوا د آزادي فضا او ځلاندو وړانګو جال څیری، او الوزی نو په دغه وخت کښې دی خپله ځاله د خپل ځان سره نه وړی او نه ئې وړی شی.

هم دغه راز د فکر ونو په دریاب کښې ډوب، مغموم. او مسرور هم. هر کله چه له غرنه را کښته شو، نو وئې لېدل چه: دده جهاز په ډېره بېړه د سمندر د غاړی خوا ته را روان دی، او په سترګه رپ کښې د سمندر په غاړه ودرید، د دې جهاز ټول ماڼوګان دده وطنداران وو.

که څه هم دی چپ ؤ، او په خوله ئې هیڅ نه ویل، مګر دده روح بې اختیاره دغو ماڼوګانو ته داچېغې وهلې:

زما د مقدسې مور زامنو! د بحر د موجونو او څپو شهسوارانو! ما تاسې ډېر ځله په خوب کښې د تصور په څپو سپاره لېدلی یاست! او نن تاسې د بیداری په یو دا راز حال کښې ما ته راغلی یاست چه دغه حالت د خوب له عالم نه هم ډېر عمیق او وسیع عالم دی. هو! زه دې کار ته حاضر او آماده یم چه تاسې سره ولاړ شم! او زما د سفر مینې هم خپل بادوانو ته پورته کړی دی او د یو موافق باد را تلو ته انتظار باسی.

بس! ډېر لږ ساعت وروسته، په دې خاموشه فضا کښې، د مینې او حسرت د یو وروستی نظر نه وروسته به زه تاسې ته درشم. او په سمندر کښې به د سفر کوونکو نورو ملګرو سره یو ځای شم.

(٥)

اوته! ای لویه سینده! ای بیده ښاماره!

ته! چه هم ستا په دې، دې بختوره غېږ کښې دچینو او سیندونو آزادی نصیب او په برخه شوې ده.

زه تا سره ددې خبرې رعده او قول کوم چه:

پخواله دې چه ستا د سیند دژوندانه دا او به یوڅو قدمه وړاندې ولاړې شی او یا په دې سمسورو ورشو ګانو او ځمکو کښې خپلو نغمو ته ادامه ور کړی.

زه به تا ته بېرته راشم! داسې لکه څنګه چه یو ډېر کوچنی څاڅکی. یو ډېر لوی بحر ته راځی، هر کله چه دی یوڅو قدمه لږ وړاندې ولاړ، نو وئې کتل چه له هرې خوانه ډېر خلك نراوښځې لوی او واړه دخپلو پټیو او ځمکو او باغونو څخه دښار ددروازې خوا ته راځغلی.

ده ددوی اوازونه اوزوږ واورید.

دغو ټولو دده نوم اخیست چېغې ئې وهلې. او یو بل ته ئی دجهاز درار سید لو خبر ور کاوه.

ده دخپل زړه سره وویل:

داد بېلتانه ورځ به دوصال ورځ شی؟

او داخبره به رښتیا شی چه دازما ماښام زما سهار ؤ؟ او زه به هغو خلکو ته چه زما دلیدو او خدای په امانۍ له پاره ئې خپل کارونه پری ایښی او ما ته راټول شوی دی، څه شی ور کړی شم؟

آیا داخبره امکان لری؟ چه زما له دې غمجن زړه څخه د ګلا نو ډ که سمسوره و نه جوړه شی، او زه د دغې و نې خوږې میوې په دواړو لاسونو په دغو خلکو وویشلې شم؟

ایا داخبره امکان لری چه زما داذوق دغره دبهاندی چینې په څیر په بهېد لو پیل و کړی؟

اودغه خلك له دغوخوږ واو بو څخه خپل خپل اوښی ډك کړی ؟

آیا له ما څخه به چنګ جوړ نشی ؟

چه زما وجودته څوك لاس وروړی، اودلاس دور وړلو سره سم له دغه تماس څخه دیوې خوږې موسیقی نغمی آواز په فضا کښې پورته اوخپور شی؟

آیا داخبره امکان لری ؟چه زما له وجود څخه یوه شپیلۍ جوړه شی او څوك چه دغه شپیلۍ پو کړی دهغو په روحونو کښې حلول و کړی .

زه دخاموشیو سره مینه لرم

خاموشی د کوم دولت نوم دی؟ زه به ئې چیرته مونده کړم؟ او په خپل لاس ئې په خلکو و و یشم؟

که نن زما دفصل دلو کولو ورځ او نېټه ده، باید زه دافکرو کړم چه ما په کوم پټی او کومه ځمکه کښې کوم ډول تخم کرلی او شیندلی دی؟

او په کومه تېره شوې- او هېره شوې زمانه کښې؟

که دا هغه وخت او ساعت وی چه زه په دغه وخت کښې خپل قندیل پورته کوم، نو آیا په دې قندیل کښې هغه اور اورنماشته چه زما په وجود کښې ده؟

شاید چه دغه زما قندیل به بی نوره او تیاره وی او چه دغه قندیل پورته شی رڼا به نلری، مګر ما ته دا خبره معلومه ده چه دشپې محافظین او څوکیداران به په دغه قندیل کښې تیل وا چوی او رو ښانه به ئې کړی .

په دې صورت کښې به ددغه قندیل مشعله په آزاده فضاء کښې د بادو نو دزورورو څپو مقابله په ښه ډول و کړی شی؟

ده دا ټولې خبرې وکړی، مګر دده په زړه کښې نورې ډېرې خبرې هم وې، چه هغه ئې ونه ویلې شوې او دا ځکه چه ده به خپل راز ونه په خپله ژبه څنګه ښکاره کړی وای؟

هر کله چه دی ښار ته دا ننوت، نو ټولو خلکو ده ته سلامونه وکړل.

او ټولو په یوه سلا په دې چیغو ګوتې پورې کړې.

دښار ټول سپین ږیری او مشران په لومړی صف کښې ودریدل.

دوی وویل:

اوس له مونږ څخه مه جلا کېږه!

اوس له مونږ نه لرې مه ځه!!

هر کله چه په مونږ د ماښام تیارو احاطه کړې وه، نو تا زمونږ د پاره په دغه وخت کښې دځان سره دغرمې دلمر په څیر یوه ښکلې رڼا راوړه.

او ستا ځلمی توب مونږ ته ډېر ښکلی ښکلی خوبونه راوښودل. ته په مونږ کښې نه کوم پردی او اجنبی سړی یې! او نه میلمه او مسافر!!

ته زمونږ اولاد یې! ته زمونږ ګران او محبوب یې! اوس ته زمونږ سترګې دخپل خوږ دیدن څخه مه محرومی کوه!!

دغو شیخانو او مرشدانو ورته وویل:

ته دا سې مه کوه چه د سمندر څپې او موجونه زمونږ او دخپل ځان په منځ کښې حایل کړی.

دخپل ګران ژوند هغه ښکلی دوره چه په مونږ کښې دې تېره کړې ده ماضی ته وسپارې، ستا دژوند ښکلی دوره په مونږ کښې د روح په ډول تېره شوې ده.

ستا وجود زمونږ وجود ونه روښانه کړی دی . اوستا دنورنه ډک وچولی زمونږ تندی نورانی کړی دی مونږ به تا سره ډېره مینه درلوده ، مګر په هغه وخت کښې چه ته دلته وې خو په هغه وخت کښی زمونږ مینه چپ اوغلی په پرده کښی نغښتی اوپټه پرته وه .

مګر نن چه ته له مونږه بېلېږی ! نو هغه پټه مینه تر پردې دباندې راووتله تا ته چیغی اوناري وهی ، اوستا په حضور کښی بی حجابه ولاړه ده اودا دود ، دی چه مینه ترڅو په پردو کښی پټه پرته وی چه دفراق اوبیلتون نغاری نه وی ډنګېدلې

مګر په کوم وخت کښې چه دفراق او بیلتانه د نغاری ډنګ دمینی غوږوته ورسېږی نومینه دپردونه دباندی راوزی

-۲-

په دی لړ کښی نورهم ډېرخلك راغلل ، اوتو لوله ده څخه په ډېرو عذرونو او زارو سوالونه اوپوښتنې وکړی . مګر هغه هیچاته جواب ورنکړ .

هغه خپل سرتیټ کړ اوځورند سرودریداو کوم خلك چه دده په څنګ کښی ولاړ وو ، هغوی پخپلو ستر ګوولیدل چه دده له ستر ګوڅخه دده پر ګریوانه اوښکی رابهیږی .

له دې منظرې نه وروسته ده سره تول خلك دخانقاه غولی (صحن) ته ننوتل . په دغه خانقاه کښی داعتکاف دخونو له یوی خونې څخه یوه ښځه دباندی دغولي (صحن) ته راووتله چه عارفه نومېدله اودډېر عقل اوبصیرت میرمن وه . هغه چه دا ښځه ولیدله ، ډېره مهربانی اوشفقت ئی ورسره وکړ ، دا ځکه چه داهغه ښځه وه چه ترټولو لومړی ئې دده په صداقت اعتراف کړی ؤ ، او دا

اعتراف دې په هغه وخت کښې کړی ؤ چه دغی جزیرې ته دده در اتلو دو همه ورځ وه.

دې ښځې ده ته وویل :

ای د بشپړی پوهې او جګ شخصیت خاونده !

ای دا ښتدأ نه خبر او دانتهاپه معلومو لو یسی سر ګردا نه غوره شخصیته !

ډیره موده کېږی چه ستا نظر او سترګې دخپل جهاز په تکل کښې بوختی او مصروفې دی، او اوس ستا هغه جهاز رارسېدلی او راغلی دی.

او ته ارومرو له دې ځای څخه تلونکی یې ستا په زړه کښې د وطن مینه ډیره قوی ده او ستا په زړه دوطن مینی استیلاء کړی ده.

هیوا د یعنی هغه ځای چه په هغه ځای کښې ستا تـو لـو هیلو او آرزو ګانو تمرکز موندلی دی.

نو په دی صورت کښې نه زمونږ مینه تا له دغه کار څخه منع کولی شی.

او نه زمونږ ضرور تو نه ستا په دغه مینه کوم تاثیر کولی شی.

مونږ له تا څخه دومره هیله لرو چه ته درخصتید لو نه وړاندې مونږ سره یو څو خبرو کړی.

مونږ ته د خپل خدای ددر کړې اعلی حقیقت څخه لږه برخه را کړه.

مونږ به ستا دغه د حکمت نه ډکه عطیه خپلو کوچنیانو ته د امانت او یادګار په ډول وسپارو.

او هغوی به ئی خپلو کوچنیانو اولادو نوته وسپاری، په دې ډول به ستا دغه امانت دتل له پاره زمونږ په نسلونو کښې خوندی پاته شی

تا یه تنهائی او خلوت کښې زمونږ دژوندانه په تولو چارو کښې فکر او مطالعه کړې ده.

تا یه خپله بیداری کښې مونږ داسې سائلی او محافظ کړی یو، لکه څنګه چه یوه ډبره یوه او خواخوږی مور دخپل بیده کوچنی بچی ساتنه او نګرانی کوی، او لکه څنګه چه دغه مور دخپل بیده کوچنی بچی دژړاخندا او نورو اوضاعو مطالعه کوی، تاهم زمونږ د اوضاعو مطالعه کړې ده.

اوس ته مونږته زمونږ رازاو اسرار بیان کړه. او هغه څه چه تا یه مونږ کښې لیدلی دی، هغه مونږته ښکاره او بیان کړه.

د موت او حیات یه منځ کښې،

د ورته یه جواب کښې وویل:

ای ددې ځای خلکو! زه تاسې ته بې له دې دبل کوم یوشی بیان وکړم، چه هغه اوس هم ستاسې یه روحونو کښې لرزانه او متحرک دی.

عارفې ورته وویل:

مونږ ته دمینې یه شا او خوا کښې څه وایه!

ددې سوال داور یدلو سره سم ده خپل سر پورته کړ او خلکو ته ئې وکتل دده د سر دپورته کولو یه اثر پر تولو خلکو خاموشی او چپ والی طاری شو.

ده یه ډیر دروند آواز یه دې ویناپیل وکړ،

هر کله چه تاسی ته میه اشاره وکړی، نو تاسی وریسې ورځئ.

که څه هم یه دغه لار کښې ډیر خنډونه او مشکلات هم وی.

او که وغواړی چه تاسی یه خپلو وزرونو کښې ونغاړی، نو تاسې هم یه ډیره مینه او خوشحالی یه هغې پورې ونښلئ.

ددوهمی پشتۍ ددوهم مخ پاته:

چه ریږ دیدلی، ریږ دیدلی په ناروغه ځان درپاڅم. پرسردی لاس را کاږم، اوښکی دی وچی کړم په خوا پوری دی ونیسم او بربیوزلی یتیمتابه او معصوم مظلومیت دی پوڅو تودی اوښکی توبې کړم.

نه می هیریږی. کله چه ستا وروستیو کتود ځوانی مرګ پلار دهغی قلاله وره څخه چه تا دژوند (۱۲) کاله بشپړ یکښی تیر کړی ؤ په خورا حسرت خدای پامانی اخیستله هغه دوی تودی اوښکی دی چه له پرله ایشیدونکی زړه څخه راوتلی او پښتنی ضبط په لیمو کښی نمی کړی وی بی اختیاره پرباړخو راوبهیدلی او دګرالبو په څیرو ولو کښې ورکی شوی، نه وپوهیدمه چه ستا زړه دفوری بې اثری په ملحوظ بیرته ژروزغملی که دا انتقام پرښتې خوندی کړی چه بیا به ئی یووخت د ده په لیمو کښې د (اوودانو) په څیر راخیژوی.

په هر صورت ته ولاړی خوستا دادوه څاڅکی اوښکی زما پرزړه لکه دوی سکروټی تراوسه پرتې دی او زخمی زړه می لکه سوی پټن د کوګل په فانوس کښې پلپتکی وهی.

ته ولاړی خوزما مینه هم لکه سیوری درپسی ده روح می دیوه وحشی اړ مرغه غوندی تپیږی چه ژر دبدن له قفسه درپسی والوزی او هغه لوړواک ته چه په خورا بی نیازی ستا دمظلومیت صحنه وینی او هیڅ نه وایی دیوې مهجوری مورد زخمی زړه داعرض په خورا بیتابۍ وړاندی کړی:

« دیتیمو داسویلی څپې چه ستا ددرانه عرش کلکی ستنی اړزولای شی نو دیوه واړه زړه دغوښو نازکی پردې څله ښورولای هم نه شی؟»

خوزه یقین لرم چه عرش به دزلزلې په ژبه راته ووایی:

« له زړونو چه رحم او احساس و وزی ځای ئې قهر او سبعیت نیسی هغه وخت نو زړه زړه نه دی او تاسی د زړه په ستر ګه مه ورته ګوری»

د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه ـ د کل یاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلي خیبري اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې د ښاغلي بختاني تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق د ښاغلي الفت اثر یوجلد په (۳) افغانۍ

٥ : افغان قاموس د ښاغلي عبدالله افغاني نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : پښتو نثرونه د محمد دین ژواك تدوین یوجلد په (۱۲) افغانۍ

۷ : پریشانه افکار : د ښاغلي بینوا اثر یو جلد په (۱۰) افغانۍ

۸ : نړۍ په دوه زړم کال کښې د ښاغلي واسعي ترجمه یوجلد په (۱۳) افغانۍ

۹ : افغان قاموس پر هم توك یوجلد په (۳٤) افغانۍ

۱۰ : د حنان دیوان یوجلد په (۱۲) افغانۍ

دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلورنځي کښې موجود دي .

کابل مجله

دا مجله د پښتو په خواږه ادب ادبي تنده ماتوي .

دا مجله د پښتنې دنیا د معرفۍ پوازینې وسیله ده.

دا مجله د نیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوي.

تاسې کولای شئ چه د اتنده په کابل کښې په (٤۰) افغانۍ په د ننه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلدارې په نورو دباندنیو هیوادونو کښې په (۳) دالره ماته کړئ

د ښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه .

د نوی کال د اشتراك د پاره په کابل کښې همدغه بیه د پښتو ټولنې د محاسبې مدریت ته او په ولایاتو کښې د همدې مؤسسې د جاري شمېر (په ۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږي

د ولتي مطبعه